شمیرپوهنه (ریاضي)

د نهم ټولګي له پاره

لیکونکی:
ډاکتر ماخان (میرې)شینواري

Ketabton.com

2017

(c) ketabton.com: The Digital Library

شمیرپوهنه (ریاضي)

د نهم ټولګي لپاره

لیکونکی:
ډاکتر ماخان (میرې) شینواري
برېښناپته:
smakhan1946@gmail.com

(c) ketabton.com: The Digital Library

سریزه ۴

۰ – پروت ولاړ سیستم یا کواورد ... ۶

۱ – ګردی (دایره) ۸

کردی هواره، - چاپیریال، - وړانګه، - ، نیمی، - دننه کونج، - منځهواره یا - دننه هواره، - ګردی ټوټه، - ګردی برخه، ګردی کړی، د ګردیو پروتځایونه یو بل ته، څو پیژندونه، ګردی لینده،د ګردی منځټکیکونج ، د کربنو پروتځایونه و..ته.

۲ - ایلیپسي یا هګی (بیضوي) ، پیژند، د باغوان جوړونه، - چاپیریال، - منځهواره، - تمرینونه،

۳ - کربنیزې څیروني یا تابع ۳۸

۳ . ۱ – د محور غوځټکي..... ۴۲

۳ . ۲ - جګیدنه..... ۴۵

۳ . ۳ – د تابعو د ګراف رسمول.... ۴۹

۳ .۴ – کلیمي او د انځورونوډولون... ۵۱

۳ .۵ - کربنیز برابرونونه.. ۵۲

۳ .۶ - پوښتنې ۵۹

۳ . ۷ – کربنیزتوابع د ورکړشو... ۶۱

۳ . ۸ – تمرینونه..... ۶۷

۳ . ۹ ځانګړی حالت..... ۶۸

۴ – کربنیز برابرونسیستم د ۲ ..... ۱۱۹

۴ . ۱ – د مناسب ځواب تلنلار ۱۳۴

۵ - په محور هندارونه ۱۳۴

۵ . ۱ – سیومتري ۱۳۸

۵ . ۲ – مرکزي متناظر.....۱۴۰

۵ . ۳ – ډپرواره هندارونه ۱۴۱

۵ .۴ – د وړنې - یا انتقالځیړنه... ۱۴۲

۵ . ۵ - ځرخون یا دوران ۱۴۳

۵. ۶ – په ټکي انعکاس ۱۴۵

۵ . ۷ – طیلاییغوځی ۱۴۹

۶ - درېګوډیکچ..... ۱۶۱

۷ – مربع مساوات ۱۹۸

۷ . ۱ – سوچه مربعمساوات..... ۱۹۸

۷ . ۲ - د مربعمساوات عمومي.. ۲۰۰

۷ . ۴ – د p-q فرمول..... ۲۰۵

۸ - ماتبرابرون.....۲۲۳

د مربع توابعومحورونوِوځټکي ۲۳۴

ارزښت ۲۳۶

د شینواري کتابونه اوژوند... ۲۵۱

(c) ketabton.com: The Digital Library

سریزه

دا نړۍ څلوېښت کاله کیږي، چې زمونږ هیواد هراړخیزه ستونزې لري او هر څه دې اوږده جنګ را خراب کړي

ګرانو هیوادوالو!

د نورو نیمګړتیاو په څیر زمونږ درسي نصاب - په تیره شمیرپوهنه - هم ډېره د ناسمون سره مخامخ ده.

که دا کار د دولت په څلوردیوالي ونه شو، نو زه به وهڅیږم، چې دا ما لیکلي کتابونه د ن ج له لارې له تاسو سره شریک کړم او دا د نړۍ په ستاندارد.

د ښوونځي په کتابونو کې د ستااتیستیک او احتمالوالي درس نور هم خورا ستونځمن دی، چې زه تري دلته تیریږم او د ښوونځي د تیرو کتابونو څخه هم هیله ده- که زما کتابونه وړاندې نه شو- چې دابرخې یا سمې یا له درسې نصاب څخه ووېستل شي. په دې برخه باور وکړئ، چې نه لیکونکی بوهیږي او نه بل لوستونکی پرې پوهیدلی شي.

زما په دې د ښوونځي کتابونو کې دا برخې نه شته، خو که وخت مې پیدا کړ دا به هم سمې کړم. ما په دې هکله د احتمالوالي او ستاتیستیک کتابونه ژباړلي او همداسې مې په هندسه کې هم احتمالوالي شمیرنه راوړې او د ستاتیستیک یو ګتاب مې هم ژباړلي، چې زه به یې په مناسبوخت کې د لیدلو پټې ګرانو لوستونکو ته د ن ج له لارې ورکړم.

دا زما ځنې کتابونه او په ډېره منته د www.ketabton.com ن ج کې ګرانولوستونکوته وړاندې شوي.

د شمیرپوهنې سم اند یا منطق زمونږ د نصاب په لسم ټولګي کې راغلی او هغه هم لکه ستاتیستیک او ... د پوهیدلو نه دی. دا- لکه څنګه چې برېښي- دومره پیچلی نه دی، نو زه دا درس له دې امله د اوم ټولګي په سرکې راوړم، هیله ده چې ستونځې به رامنځ ته نه کړي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

زه چې ترڅو ستاسو په منځ کې وم او د کار یم، ستاسو چوپړ کې به اوسم. راځئ، چې ستونځوبې(د ستونځو حل) سره شریک کړو.

زه دې لیکنو او پرې قضاوت کولو ته ځانله یم.

تکرار په کې زیات دی، خو د موصوع، نه د خودیونې. وایې چې تکرار د زده کړې مورده، نو پروا نه لري. کمښتونه هم په کې شته. سره د ټولو نیګرتیاوو دا د ښوونځي له پاراه ډېره ګتوره او زه چې پوهیږم، یواخنی سمه لیکنه ده.

دا چې سمه لیکنه ، د ځان له امله نه وایم، دګرانو زده کوونکو او ښوونکو له پاره وایم. دا زما لیکنې نه دې، دا ما له نورو کتابونو څخه رانیولې، چې باید سمې وي.

زه به وهڅیږم، چې درسمې ښوونځي کتابونو نا سمونونه له تاسو سره شریک کړم، خو ډېر لږ، یواځې داسې د یادونې له امله.

په ډېره خواشینۍ باید ووایم، چې ملاتړی نه لرم، چې د لیکنې ستونځې راته په ګوته کړي.

د نصاب د غړو څخه مې هیله ده، چې ګټه تري پورته کړي او په بنسټ یې د ښوونځي لیکنې سمې کړي.

د خوندیونې ټیکاوي کې پوښتنه نه شته، ځکه چې ما هم د نورو لیکنو څخه راټول کړي او هڅیدلی یم، چې سم یې تري راونیسم.

باور وکړئ زه د دې لیکنو سره لږ ستړی شوی یم، نو ځنې ځایونه به داسې نیمګړي پاتې وي، چې ستاسو پوهیدنې ته کوم زیان نه رسوي، د هغې بخښنه دې وي.

کله تمرینونه کم وي او کله تکرار راځي، چې دا بد مه ګڼئ.

په دې کتابونو ما دومره ځان بوخت کړی، چې باورکړئ مغذ مې تري نورمورِ دی، نو له دې امله یې پای نور پایوم یا ورته د پای ټکی ږدم.

(c) ketabton.com: The Digital Library

کواوردينات سيستم

يادونه : کواوردينات سيستم څخه ځمور هدف پروت ولاړسيستم دی. دا په ادبياتو کی په همدې نامه يادېږي. ما کله کله همدا دواړه ترمينولوژي کارولي هيله ده چې ګران لوستونکی به پرې اشتباهي نه شی.

د شميرپوهنی او همدا ډول د تخنيك په ډيرو څانګو کی د کواوردينات سيستم ډير مهم رول لوبوي. په کارتيزي کواوردينات سيستم کی د هوارې هر ټکی P د خپلو دواړو کواوردیناتو(x,y) ورکولوسره کره يا ټيك ورکړ شوی دی. لمړی کمپوننت يا ابسځيز (Abszisse) د x –ارزښت يا پروت ارزښت او دوهم کمپوننت يا اوردينات (Ordinate) د y–ارزښت بلل کيږي يا ولاړارزښت. کارتيزي کواوردينات سيستم هواره د دوه يو په بل نيغ ولاړ محورونو(لنډ: ولاړ محورونو) له لارې په څلورو برخوويشي (څلورمی Quadranten) د کوادرانتو نومره بندي يا نمره کول د ساعت خرخيدلو په څټ صورت نيسي او د بنې پورته لور څخه پيل کيږي.



ځيره ۲۰ : د کارتيزي کواوردينات سيستم څلور کوادرانتونه د کمپوننتو له مخنخبني سره.

پروتنيغ پروت محور د ۱ . محور يا x–محور يا پروت ارزښت، په دې لوتنيغ ولاړ محور د ۲ –ام محور يا y– محوراو يا ولاړمحور په نامه يادېږي.

د يوه ټکي P(x,y) کواوردينات په ټوليزه

(c) ketabton.com: The Digital Library

توګه اجازه نه لري چې بدل شي، ځکه چې دا کېمونټونه تنظیم شوي یا منظمه جوړه
ده. د ځل یا ضرب لمړنۍ کېمونټ د y– محور ځخه فاصله ټاکي دوم کېمونټ
د x– محور ځخه. که لمړۍ کمپونټ منفي وي، نو ټکۍ د y–محور کښ لور ته

تنجنت هغه کربنه ده، چې د دایرې د چاپېریال (محیط) سره یو ټکی شریک ولري. د تماس په ټکي کې وړانګه په تنجنت نیغه ولاړه ده، یا ولاړه ده.
تنجنت: خطي که به محیط دایره فقط یک نقطه مشترک داشته باشد تنجنت گفته میشود. در نفطه تماس شعاع به مماس عمود است.
مثال: در یک نقطه به خط منحني دایره یک مماس رسم کنید.
به خط در نقطه یک عمود رسم شود. این عمود مماس مطلوب میباشد.
از یک نقطه که بیرون دایره واقع باشد، مماسي را رسم نمایید.
خط و به ان دایره تالس را رسم میکنیم. نقاط و به دایره تالس به منحني دایره نقاط تماس تانجنت هستند.
یوه زاویه جې د دایرې په چاپېریال کې د یوه وتر مخامخ پرته وي د محیط زاویه بلل کیږي.
د همغه وتر مخامخ چاپېریال زاویې سره برابرې دي

د منځټکي هغه زاویه له کومې چې وتر بریښي منځټکي زاویه بلل کیږي.
هغه زاویه چې په یوه پایټکي کې

(c) ketabton.com: The Digital Library

۱ - ګردی (دایره)

یادونه: ولې ګردی؟ موږ به چې په هسکه مینه شینوارو کې غوزان ګټل، نویوه بنده ګرده کړښه مو وېستله او هغې ته مو ګردی ویل. دا نومونه د افغانستان په ټولو یا زیاتو ځایونوکې شته، خو پښتانه کله خپل نومونه تخریبوي.

د یوې پیالې غاړه که رنګ کړی او هغه په یوه کاغذ کیږدی، څیره چې لاس ته راځي، څه ورته وایی؟
د یوې افغانی ژی، څه شکل لري؟

پیژند یاتعریف د یوې سطحې یا هوارې ټول هغه ټکی، کوم چې له یوه ټکی داسی په نامه منځټکې Mڅخه همغه واټن(فاصله) r (په نامه وړانګه یا شعاع) ولري، ګردی لاین یا لنډ: ګردی بلل کیږي (مخامخ څیره)	

لیکندود یې (دا لیکندود په پیل کې ورځنی یا معمول نه دی، وروسته په تحلیلي هندسه کې راځي، خو دلته که وي هم تاوان نه ري): $k = \left\{ X \in E \mid |\overline{MX}| = r \right\}$

لوستل یې: کردی ک د ټولوټکو ایکس چې ایکس د اې توکی دی، ډېری ده، داسې چې..... دی.

ګردی هواره او ګردی چاپیری

(c) ketabton.com: The Digital Library

په پام کی دی وي، چی د ټولو هغو ټکو ډېرې یا ست، چی له M څخه واټن (فاصله)یی له r څخه کوچنی یا د r سره برابر وي د دایرې سطحه بلل کیږي. (موخه یې ګردې منځهواره ده یا ټیك : ګردیټوټه)

د وړانګې (شعاع) پیژند: لکه د مخه مو، چې په ګوته کړه، هغه کرښه چی د دایرې ژی یو ټکی د منځ ټکی سره تړي، هغه د دایرې وړانګه یا لنډ: وړانګه(شعاع) بلل کیږي، چې په r سره یې ښایو (پورته څیره وګورئ)۰

د نیمی یا قطر پیژند: هغه کرښه، چې دایره په دننه کې نیموي د دایرې نیمی (قطر) بلل کیږي او په d سره یې په نخښه کوو (پورته څیره دې وکتل شي)۰

پیژند
د دایرې (ګردی) دننه کونج یا ټول کونج یا پوره کونج 360درجې لري.

ګردیچاپیریال u د وړانګې r سره په لاندې ډول ورکړ شوی دی

$$u = d \cdot \pi = 2r \cdot \pi$$

او همداسی ګردیمنځ- یا دننه هواره A د وړانګې r سره په لاندې توګه ورکول کیږي

$$A = r^2 \cdot \pi = \frac{d^2 \cdot \pi}{4}$$

$$d = 2 \cdot \sqrt{\frac{A}{\pi}} = 2r$$

دا لاندې ورکړشوی عدد ،، پې π ،، د دایرې عدد بلل کیږي
: $\pi = 3{,}14159265$

یادونه: دا چې ما کله هواره یا سطحه په A یا F او π مې په Pi نخښه کړې، هیله ده چې دا به ګرانو لوستونکو ته ستونځې پیښې نه کړي.
په پورته کې ورکړ شوی د دایرې عدد (ګردی ګڼ) « π پې » ګورو، چې بیرته راګرځیدونی دی۰ له دې امله یو ایراشنل عدد دی او د مات په څیر نه لیکل کیږي، بلکه له لسمیز (عشاریه) وروستی پریودي یا تل بیرته راګرځیدونی ځیفر پرلپسی دی. په کارونه کې یی مور نزدې شمرني یعنې راکردونې ته اړ یا مجبور یو، ځکه چه د جښمیري د عددونوځایونو له امله، چې پای دي یا پوله لري یا رابند(محدود) دي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

څنګه سړی په دې بریالی شو چې دا عدد π پیدا کړي؟

دا لار دې په لاندې کې لنډه ورکړ شي:

دا له ارښمیدس څخه پیل کارونه (عملیه) یا تګلار داسې پیل کیږي، چې په دایره کې یو ه مربع راګیروي یا رابنده وي او بالاخره یې په منځنیو ولاړو یا عمودونو سوکځیسیف یا یو په بل پسې ۸ ، ۱۶، ۳۲ او داسې نورو، لوړ یا جګ کړي یعني په همغه وخت کې دوه برابره کړی .

څیره ۱۱۹



یوې ګردې ته د یوه n –ګوډي له لارې نزدیونه (نزدې کیدنه)

څیرې ۱۱۹ ښایې چې،

په مخامخ څیرو کې نهه ضلعي ورپسې شپږضلعي کښل شوي، دې ته ګورو، چې څنګه ګردې ته نزدې کیږي مخامخ څیره څو څوګوډیز بریښي او ستره تری راتاو ګردی**مخامخ** څیرو کې یوې دایرې ته د یوه n -ضلعي له لارې نزدیونه (نزدې کیدنه) **کتل کیږي، هغه ۶۵۵۳۷ ضلعي، چې ګورو نزدې یا ټیک دایره ده)**	

د زیاتیدونکي n سره کانتی یا ژی یا ارخونه (ضلعي) تل کوچني کیږي، چې پخپله له ۱۰۰ یا ۱۵۰ ور رسونو ته په یوه پاڼه کې د کښلو یا رسمولو څخه وځي یا نه کښل کیږي، په همدې وخت کې د منځتکی څخه د په همغه واټن د اضلاعو تعداد زیاتیږي (یعنی د مربع د اصلاعو د تعداد). د مربع پیلدایرې سره دا څیره تل نزدې کیږي. په

(c) ketabton.com: The Digital Library

ورته توګه د دايرې چاپيريال او منځهواره هم همغه چاپيريالدايرې ته نزدې کيږي. د اضلاعو زياتيدو سره د دايرې وړانګه هم لويږي. د هغو چاپيريال او منځهواره تل همغه ډير ضلعي او په همدې توګه د چاپيريالدايرې څخه. په روښانه توګه ليدل کيږي چې د چاپير يالدايرې او د سطحي (منځ هوارې) د ناپای ډير n ضلعو سره د n - ضلعي سره يوځاي پريوځي يا يوځای کيږي.

په لاندې جدول کی د چاپيريال ارزښت او په همدې توګه د سطحي (منځهوارې ارزښت) د زياتيدونکي n عدد سره ستابيل (په خپل حالت، چې ډير تغير په کی نه راځي) پيژندوړ دی:

Fnمنځهواره	Unچاپريال	nپيدايښتي ګڼ
2	5,656854	4
2, 828427	6,122934	8
3,061467	6,242890	16
3,121445	6,273096	32
3,136548	6,280662	64
3,140331	6,282554	128
3,141277	6,283027	256
3,141572	6,283145	512
3,141572	6,283175	1024
3,141587	6,283182	2048
3,141591	6,283184	4096

وروسته به وکتل شي چې څنګه د ګردې چاپيرال (دايرې محيط) او د دايرې هواره (سطحه) د درېګوډيو(مثلثونو) له لارې تاکل کيدی شي

پيلبيلګه:

د بانك مدير ښاغلی سپين غواړي د کنفرانسونو لپاره يو د ښيښې ميز جوړ کړي چې په هره لور يې ۸ کسان ځاي نيولی شي. ايا ددې لپاره يو ميز چې ۲ مټره نيمی(قطر) ولري بسيا کوي، که د يوه نفر لپاره له ۷۵ څخه تر ۸۰ سانتيمټره د ميز په سور، ځاي

(c) ketabton.com: The Digital Library

په پام کی نیول شوی وي؟

دا میز به څومره ګران وي، که یو څلوړ متر یا مترمربع د کار د معاش سره ۲۵۰ افغانۍ ګران وي یا ۲۵۰ افغانۍ ارزښت ولري؟

دمیز محیط (چاپیریال) دی pi.1m=6,248m² = U په د هرکنفرانس برخوالو لپاره ۷۵ سانتي مترہ سرورځاي په پام کی وي، نو د محیط دی : 8.75= 600cm

د ۸۰سانتیمتره ځاي د نفر په سر 80.8 = 640cm . قیمت وسطي یا منځ اړښت یې 6,2m دی. پس د ډیکو هیلو سره ټول کسان په میز خاي نیولی شي میز دا سطحه (هواره) لري: $F = \pi.1m = 3142m^2$ او له دې املې 3,142.250=785,40 یانې افغانۍ ارزښت لري..

په لاندې څیره کې کتل کیږي، چې د ګردی منځهواره نزدې



$$A = r^2 \cdot \pi = \frac{d^2 \cdot \pi}{4}$$

ده (په پورته څیره کې د څیرې کوچنیوالي له املې د ګردی څیره لږ تخریب شوه، خو دا ستونځې پوهوړ دي۰

ګردټوټه ، ګردیږخه او ګردیکړی

(c) ketabton.com: The Digital Library

ډیر وخت دننه- یا خوندیګردی له چاپیریالګردی کوچنی وي. نو له دې امله د دوي په منځ کې یوه کړی منځ ته راځي، چې د هغې منځهواره د دواړو ګردیو د کمون، کمښت یا توپیر څخه شمیرل کیږي .	
جمله : موږ دوه دایرې لرو، چې د محاطي دایرې وړانګه R او د محیطي دایرې وړانګه r ده، نو د $F_K = \pi R^2 - \pi r^2$ $F_K = \pi(R^2 - r^2)$ $F_K = \pi(R-r)(R+r)$	

بل ډول یې: یوې د دایرې کړی منځهواره ده $A = \pi \cdot (R^2 - r^2)$

همداسې کیدی شي، چې د دایرې محیط د دایرې فطاع (د دایرې برخې) د سور او دننه او دباندې ګردی د نیمیو څخه هم وشمیرل شي، چې په لاندې کې یې ګورو:

$$A = (D - b) \cdot b\pi$$

$$A = (d + b) \cdot b\pi$$

پیلبیلګه:

د سپین میز درز پیداکړ. چې له غاړې یا ژې یې پنځه سانتي مترہ دننه لور ته ځغلي. بشاغلی کړاو فکر کوي ، چې که دامیز په پنځه سانتیمتره کوچنی کړی . کومه میز سطحه پاتې کیږي او د دایرې کړی چې له منځه ځي څومره لویه ده؟

او د همغه پیل نیونی سره لکه د مخه څومره نفر اوس په میز ځای نیولی شي ؟

$F = (0{,}9m)^2.Pi = 2{,}835m^2$

د دایرې کړی سطحه او محیط چاپیریا په لاندې ډول دي

$F = 1{,}95m.0{,}05m.Pi = 0{,}30m^2$

(c) ketabton.com: The Digital Library

U' = 2,095m.Pi = 5,969m ; U' :8 = 74,6 cm

د داسې لږ ستونځو سره بیا هم ټول کسان پر میز ځای نیولی شي.

د ګردیوپروتځایونه یوبل ته:

هغه دایرې، چې منځټکي یې یو په بل پرېوزي کونځنتري یا راټول او په غیر له دې اکسځنتري یا ناراټولې بلل کیږي.



یو منځي کړۍ یا دایرې



نا یومنځي دایرې یا کړۍ

ددې لپاره. چې یوه دایره ټوله په بله پریوزي کېدی شي دا کار د راکښلو له لارې په کونځنتري یا راټول دایرو واړول شي.



وي کیدی شي چې د راکښلو له لارې په کونځینتریګردیو یا راټولګردیو بدلی شي.

خیره ۱۲۱

(c) ketabton.com: The Digital Library

هغه دوه یا زیاتي ګردۍ چې منځ ټکي پې یو په بل پریوځي کونځنتري Konzentrie یا راټولي او په غیر له دې اکسځینتري Exzentrieیا ناراټولي بلل کیږي . که یوه ګردۍ ټوله په بله کې پرته وي کیدی شي چې د راکښلو له لارې په کونځینتري ګردیو یا راټولګردیو بدلې شي.

که ګردی یوبل پوره پټي نه کړي، نو د ګډو هوارو) = غوځډیریو(یا ګډو پاتي یا باقي شمیرنه له ستونځو سره مخامخ کیږي .که ګردۍ یو له بل سره ګډ ټکي ونه لري نو دا ګردۍ یو دبل سره پردۍ بلل کیږي• د دې ګردیو ځیرې مو نه کښلي، دا کار دې ګران لوستونکي په غاړه واخلي•

څو پیژندونه یا تعریفونه:

د ګردۍ هغه برخه ګردیټوټه (سګمنت) Segment/ Abschnitt بلل کیږي، که چیرې یوه دایره (ګردۍ) د یوې کرښې له لارې یا کرښه باندې غوځه شي . داسې یوه کرښه غوځکرښه یاغوځوونې (سیکانت) Sekante بلل کیږي. غوځکرښه ګردی په دوه ټوټو ویش. که دا کرښه د ګردۍ له منځ څخه تیره شي، نو ګردۍ په دوه برابرو برخو ویشي، چې دا بیا ګردۍ نیمووني بلل کیږي. هغه غوځوني چې له منځ ټکي تیره شي، د ګردۍ نیمی یا لنډ: نیمی بلل کیږي. که ګردی په یوه ټکي کې لمس کړی نو دا کرښه تانجنت بلل کیږي او که له ګردی څخه دا کرښه دباندې تیره شي نو تیریدونې کرښه بلل کیږي .په ګردۍ د غوځکرښې دننه پرته برخه د ګردۍ ټوټوني (Sehne) یا وتر بلل کیږي .ټوټونې یا Sehne بندکرښه ده په داسې حال کې چې غوځې ، تنجنت او تیریدونکې ناپاي کرښې یا -لکه، چې ورسره بلد یو - کرښې دي .د یوه ګردۍ څخه د دوه وړانګو په مرسته کیدی شی یوه برخه راغوځه شي دا برخه ګردیبرخه یا سکتور Sektor بلل کیږي. د منځټکیکونج یامنځني کونج او لیندې (Bogen) b سره. مخامخ ځیره ده

په لاندې ځیرو کې د نومونو له المانې څخه په پښتو کوونه له کین وښې لورته:

ګردیلینده Kreisbogen د ګردۍ ټوټه وونې(ټوټووني) Kreissehne ،
ګردۍ برخه Kreissektor ،

(c) ketabton.com: The Digital Library

په ګردی کې د کونجونو ډولونه:



د ګردی توټه (د ځیرنې پوهیدوله پاره دالاندې ځیره پوره په پام کې ولرئ)



ګردی توټه Kreissegment ,
د ګردی توټی لویې:

- **α = منځټکیکونج Mittelpunktswinkel**
- **b = ګردیلینده Kreisbogen**
- **h = د توټې جګوالی Segmenthöhe**

(c) ketabton.com: The Digital Library

- r =وړانګه Radius
- s = توټه وونې (وتر) Kreissehne
- A = توټې هواره Segmentfläche
- M = ګردی منځټکی Kreismittelpunkt
- Verbindungترنه A-M-B = برابرپښیز درپګودی

د ګردیټوټې فرمولونهFormel zum Kreissegment

منځهواره مخامخ فرمول Flächeninhalt	$A = \frac{\alpha}{360^\circ} \cdot r^2 \cdot \pi - \frac{1}{2} \cdot r^2 \cdot \sin\alpha,$ $A = \frac{r \cdot b}{2} - \frac{s \cdot (r-h)}{2},$
Radiusوړانګه (شعاع)	$r = \frac{4h^2 + s^2}{8h}$
Kreissehne ټوټه وونې (وتر) د وروسته لپاره دي په پام کې وي	$s = 2r \cdot \sin\left(\frac{\alpha}{2}\right),$ $s = \frac{2h}{\tan\left(\frac{\alpha}{4}\right)} = 2h \cdot \cot\left(\frac{\alpha}{4}\right)$
Segmenthöhe د ټوټې جګوالی یا قطعې جګوالی	$h = r - \left(r \cdot \cos\left(\frac{\alpha}{2}\right)\right),$ $h = r - \sqrt{r^2 - \left(\frac{s}{2}\right)^2},$ $h = \frac{s}{2} \cdot \tan\left(\frac{\alpha}{4}\right)$

(c) ketabton.com: The Digital Library

$b = 2r \cdot \frac{\alpha \cdot \pi}{360^\circ},$ $b = r \cdot \pi \cdot \frac{\alpha}{180^\circ},$ $b = \frac{\alpha \cdot \pi \cdot (4h^2 + s^2)}{1440h},$	Bogenlängeدلـيـنـدې اوږدوالـی
α , $\alpha = 4 \cdot \arctan\left(\frac{2h}{s}\right)$	Mittelpunktswinkelمـنځتـيـکـونـج پـه درجه کـچ(Gradmaß)
$\pi \doteq 3{,}1415926536$	Kreiszahlګـردیـګن

ګردی برخه Kreissektor یا د ګردی قطاع



Formeln zum Kreissektor د ګردی برخې یا قطاع فرمولونه	
$A = \frac{\alpha}{360^\circ} \cdot r^2 \cdot \pi$	Flächeninhaltمـنځهوارې
$b = \frac{\alpha}{180^\circ} \cdot r \cdot \pi$	د ګردی لـيـنـدې اوږدوالـی یـا د قـوس--
r	Radiusوړانـګـه
α	Mittelpunktswinkel(Gradmaß) مـنځتـيـکـونـج (پـه درجه کـچ)

(c) ketabton.com: The Digital Library

$\pi \approx 3{,}1415926536$	Kreiszahlګردیګن یا د دایرې عدد

د یوې ګردۍ او کرښو پروټځایونه یوبل ته:

کرښه، چې ګردۍ غوڅوي، غوڅونې بلل کیږي.

کرښه، چې ګردۍ لمسوي یا د ګردۍ مماس دی، د ګردۍ لمسونې یا مماس بلل کیږي.

کرښه چې له ګردۍ تیریږي، له ګردۍ تیرېدونکې بلل کیږي.

د کرښوپروټځایونه د ګردۍ ته:

په لاندې څیره کې د کرښو نومونه: تیریدونې Passante ، تانجنت Tangente، غوڅوونې Sekante ، لاندې څیره کې خو هرڅه روښانه دي.



په لاندې کې پورته ټولې څېړې په یوه څېره کې ورکړل شوې دي

(c) ketabton.com: The Digital Library



څيره ۱۲۲

پيلبيلګه :

د يوه بنس موټر جوړولو لپاره ۱۷۵۰ کيلوګرامه اومه(خام) مواد په خرڅ رسيږي يامصرفيږي. په دې کې اوسپنه او فولاد ۷۵ په سلو کي ، په پالستي، شيشي او رنګ ټول ۹ په سلو کې رسيږي، په رنګه فلزونو او ربړ ۶ په سلو کې رسيږي، او تيل ۴ په سلو کې . يو ګرديدياګرام وکاړئ چې هره برخه په کې ورکړ شوي وي .

د ګردي ټوله هواره د ټولو موادو سره مساوي دۀ) ۱۰۰ په سلو کې (د جوړمو ادو برخه د ګردبرخې څخه عبارت دی. يوه د يو په سلو کې برخه به يوه ګردیبرخه وي د منځکونج سره 360°:100=3,6° وی . يعني 4%~14,4°;6%~21,6°;9%32,4°;75%=270° څيره دی، چې د هرڅه برخه کې ورنزدې شوول شوې وي په يوې ګردی	

(c) ketabton.com: The Digital Library

کې وکښل شي يا لاندې د ګردی برخې څيره څرګندوي» د منځکونج چې د ، ε سره يې په نخښه کوو لويوالي په تناسب برخهواره **Fsk** او هم لينده **b** تغير خوري او لاندې باوري دي: $\frac{F_{SK}}{F}=\frac{b}{U}=\frac{\varepsilon}{360°}$	ع لويوالي b ده  ګی دیوځه یا ګردی اغوځی څيره ۱۲۴

د ډبل برابرون د دويمې برخې څخه باوري دي:

جمله : د ګردی برخې د لينډې اوږدوالی داسی دی:

$$b=\frac{n.\varepsilon}{360°}=\frac{2\pi r.\varepsilon}{360°}=\frac{\pi r\varepsilon}{180°}$$

د لومړی برخی څخه د سيکتور يا ګرديبرخی لپاره باوري کيږي

جمله : د سيکتور يا د ګرديبرخی منځهواره په لاندې ډول ده:

$$F_{Sk}=\frac{F.\varepsilon}{360°}=\frac{\pi r^2.\varepsilon}{360°}=\frac{rb}{2}$$

اړيکي $F_{Sk}=\frac{rb}{2}$ د مات $F_{Sk}=\frac{F.b}{n}=\frac{\pi r^2 b}{2\pi r}$ د لنډونې څخه منځ ته راغلي

بيلګه: د خام موادو برخی (بيلګه مخ) هواره څومره لويه ده، که د ګردی دياګرام ۵ سانتي متره وي ؟

(c) ketabton.com: The Digital Library

F اوسپنه او فولاد = (25 π : 360°).270 = 0,218.270 = 58,905 cm³

F پلاستیك = 0,216.32,4 = 7,069 cm³

F رنګه فلزات = F ریر = 0,218.21,6 = 4712 cm³

F تیل = 0,218.14,4 = 3,142 cm³

د ټولو ټولګه یا د ټولو زیاتون باید د ګردی هواره ورکړي:

$F = \pi r^2 = 78,54 \text{ cm}^3$

د برخهواري ددې فرمول سره نور د برخهواري شمیرلو لپاره هم کوم جنجال یا پرابلم نه شته. د اخرنی هواره دلته بیا د برخهواري او د دوه وړانګو او ټوټونی څخه جوړ مساوي پښیز دریګوډي کمون دی.

څیره ۱۲۵

ګردی ټوټه



د دریګوډي هواری لپاره باور لري:

$F = s(r - h) / 2 = 0,5\ r^2 . \sin \varphi$

(تریګونومتري دی وکتل شي ....) او ددې سره ټوټه هواره

جمله: د ګردیټوټی یا سګمنت هواري په لاندې ډول دي:

$F_{Sg} = F_{Sh} - F$

$F_{Sg} = (br/2) - s(r - h) / 2$

$F_{Sg} = (\pi r^2 \varphi / 360°) - (r^2 \sin \varphi)/2$

$F_{Sk} = (r^2/2) [\pi \varphi /180° - \sin \varphi]$

په کارونه یا عمل کی د ټوټه هواري لپاره ګټور نزدې ارزښت $F_{Sg} = (2/3)sh$ ښوول شوی دی.

(c) ketabton.com: The Digital Library

پیلبیلګه: مدیر کړاو له خان څخه پوښتي چی ایا د ګردیمیز په خاي به یو منظم اته کو نجی هدفمند بهتر نه وای؟ نو په اختیار کي هواره او چاپیری به څومره لوي وي؟

لمړی ګردیټوټی شمیرو. په ورته ډول لکه د ګردي نزدې شمیرلو لپاره، د مربع څخه و ډیرکونجي ته، مخ ته خو او دې د اړخونو اوږدوالی s شمیرو.

منځولاړه m، د اته کو نجیز کانتی یا ژی k او بالاخره د دګردیټوټي جګولی h د پیتاګوراس د جملی په مرسته شمیرو.

لاندې لاس ته راځي:

$$s = \sqrt{2} \cdot 1 = 1{,}414 \text{ m} \; ; \; m = \sqrt{a-(1{,}414 : 2)^2} = s / 2 = 0{,}707 \text{ m}$$

$$k = \sqrt{(1 - 0{,}707)^2 + 0{,}707^2} = 0\,,\,756 \text{ m}$$

$$h = 1 - \sqrt{1 - (0{,}765 : 2)^2} = 0{,}076 \text{ m}$$

د $\varphi = 45°$ له املې $b = 0{,}393$ m دی./و له دې سره

$$F_{\text{توټه}} = 0{,}5.[0{,}393.1 - 1{,}414(1-0{,}076)] = 0{,}039 \text{ m}^2$$



(c) ketabton.com: The Digital Library

له دې څخه په هرصورت د ښیښی میز جوړیږي. ټوله غورزول شوې له دې امله په لاندې توګه ده: $8.0.039 = 0,312\ m^2$.میز اوس لاندې هواره لري

$$F_0 - F_{\text{غورزولشوې}} = 2,828\ m^2$$

او په همدې توګه لکه د کوچني شوي ګردیهواره د وړانګې $r = 95\ cm$ سره. د کیناستلوځای سور (k) حتي زیات شوی ، چاپیری اوس $U = 8.0,765 = 6,123\ m$

د مساوي ټوټوونو جمله



څیره ۱۳۱

مساي اوږدې ګردیټوټې د ګردي له منځټکي مساوي فاصلی لري، مساوي منځټکي کونجونه، مساوي ګردیلینده، او مساوي ګردیټوټې او مساوي ګردیبرخی لري .

د چاپیرګردی جمله



د درې ټکو A, B, C لپاره یوه ګردی موجود ده چې د دریواړو ټکو څخه تیریږي:
دا د دریکونجي ABC چاپیرګردی بلل کیږي
څیره



د پریفري – یا ژیکونج جمله

څیره ۱۳۳

په همغه لینده باندې ټول
پریفري – ژی کونجونه مساوي دي

(c) ketabton.com: The Digital Library



د منځټکیکونج او پریفریکونج یا ژېکونج جمله:

یو منځټکیکونج دوه برابره دومره لوي دی
لکه په دې ټولی پریفري کونج. (چاپیرکونج)

څیره ۱۳۴

د منځټکي کونج او د
تانجنت-ټوټوني- کونج جمله:



د منځټکي کونج دوه ځله دومره لوي دی
لکه په دې اړوند تانجنت-ټوټوني کونج.

دګردیوجمله چی په دوه ټکو کی سره پریکوي

د ټولو ګردیو منځټکی چی پو بل په
دوه ټکو A او B کی غوڅوي یو
ناپایکرښه باندې چی ځایلاین
(ځایکرښه) ورته وایي پراته دي.

څیره ۱۳۵

(c) ketabton.com: The Digital Library

د وړانګې او تنجنت جمله

په لمسټکي پرته وړانګه او اړوند تانجنت سره یو په بل ولاړ یا نیغ پراته دي.



څیره ۱۳۶

د تانجنت جمله:

د دوه ګردیو د منځ ټکو M_1 او M_2 سره تانجنتونه دننی (دباندني) تانجنتونه نومیږي که د دوه ګردیو د منځټکوکربنه $M_1 M_2$ غوڅه (غوڅه نه) کړي.که چیرې دوه ګردي ګډ دننني او دباندني تانجنتونه ولري، پس د داوړو تانجنتونو غوڅټوټې همغه اوږدوالی لري.

$|AB| = |CD|$ په همدې ډول $(<=>)$ $|A'B'| = |C'D'|$



څیره ۱۳۷

(c) ketabton.com: The Digital Library

د وترونو جمله: د وترونو زاويې، چې مخامخ پرتې دي,يو بل سره $180°$ ته پوره کوي



څيره ۱۳۸

$$\alpha + \beta = \gamma + \delta = 180°$$

د تنجنتونو څلورضلعيو جمله:

د تنجنتونو په څلورضلعي کې د مخامخو ضلعو لويوالی د نورو ضلعولويوالي سره برابر دی



څيره ۱۳۹

A+c = b+d

(c) ketabton.com: The Digital Library

۲ - ایلیپسی (بیضوي یا هګی) (دلته موخه هواره ده)

Ellipse

پیلبیلګه:

د کړاو میز جوړښت باندې مور په اته کونجي اوبی یا حل کی تم کړی وو. دا چی په دې ډول یو میز سره تل د زخمي کیدو خطر موجود دی،پوښتنه رامنځ ته کیږي چی : داسی یو را ګردشوی شکلی شکل ، چی ګردی نه وي او منظم غوځ وي، شته، چی د کړاو اړتیا پوره کړي؟ په ریښتونی ، داسی یو اوبی یا حل موجود دی، لکه چی لاندې څیره ښایي، چی هر د غاړې ټکی دوه ټکو واټنونو ته یو ثابت واټن لري



پیژند یا تعریف:

د ټولو هغوټکو P ډیري ته چی له دوه ځاي په ځاي ټکو F1 او F2سوزبدټکی یا بهتره سوزونټکو (ځخه ثابته یا همغه واټن یا فاصله لري، ایلیپسی نومیږي

لاندې واټنونو یا فاصلو ته سوزونورانګی وایي.

$$|PF_2| = r_2 \wedge |PF_1| = r_1$$

(c) ketabton.com: The Digital Library



$$E = \{P \mid \left|\overline{F_1P}\right| + \left|\overline{F_2P}\right| = 2a\}$$

منځ ټکي) واړوی M په (Oته د ايليپسی منځ ټکی وای، eته د سوزونواټن يا فاصله يا لايني ايکسځنتريځيتايت (lineare Exzentrizität)يا لايني ناراتوله وايي .ددې لويو لپاره لاندې اړيکي باوري دي

$$I.....r + r = 2a \wedge II.....a^2 - b^2 = e^2$$

په دې کی a او b د ايليپسی لوي او ووړ نيممحورونه دي. اړيکه I روښانوي، که چيرې د ايليپسی ټکی P د نيممحور a په اخر کی وټاکل شي، IIد پيوتاګوراس له جملی لاس ته راځي که د Pټکی د b نيممحور په اخر پروت وي .دواړه ناپايکرښی چی د سوزونټکي تيريږي او په دې په O کی ولاړه ناپای کرښه د ايليپسی سيوميتري محورونه جوړوي .د خوښي په ټکی P کي هره په تانجنت ولاړه کرښه د سوزونوړانګو ترمنځ کونج نيموي.

د ايليپسی جوړول د باغوان لخوا يا د ايليپسي باغواني جوړښت:

دا څيره دې ګران لوستونکي د تمرين په توګه وباسي. د يوې رسۍ، چې په 2aاوږده وي، په داوړو سرونو کي موړي وټړي او دا بيا په ځمکه ټکوهي، د يو بل)خوزيدونکی (موړي يا لرګي په مرسته دا پړی راکښ کړي يا راکاړی او وګرځوی ، دلته کوم شکل چي پيداکيږي ايليپسی ده او دواړه د پړي د

(c) ketabton.com: The Digital Library

سرونو ټکي چې موږي پرې وهل شوي سوزونټکي دي. څيره په هر کواوردينات سيسم او يا په يوه ميلي متر کاغذ کونځينتري يا راټولو کردیو په مرسته بل جوړښت امکان پيداکيږي، چې سړی د يوه ټکي دوه کردی د a او b وړانګي ووهي او هره د خوښي وړانګه د ننني کردی په Pb او دباندنی کردی په Pa کی غوڅوي. که د Pb څخه يوه پرته کرښه وويستل شي او د همغه تر Pa دوام، نو هرچيرته يو د ايليپسی يا هګی يا بيضوي ټکی لاس ته راځي. د ايليپسی هر ټکی داسی پيدا کيدی شي .پيژندل کيږي چې هر 2 bته غبرګ ټوټونی

د $k=a/b$ فاکتور سره لنډ شوی دی. له دې سره د هوارې دننه هم تغير خورې ددې فاکتور k په اندازه

$$F(Kreis(gardai)) = \pi r.r \Rightarrow \pi r.(k.r) = F(hagai, baizawy)$$



څيره ۱۴۱

او له دې چې $r=a$ او ($k.r=b$ د لته r د کردی » لويه نيمه اکسی (محور) ده

جمله : دايليپسی هواره ده $F=\pi ab$:

(c) ketabton.com: The Digital Library

د ایلیپسی چاپیرونی په ساده ډول نه شي شمیرل کیدی، په عمل کی په زیات وخت کی نزدیونه یا نزدې شمیرنه بسیا کوي.



ځیره ۱۴۲

جمله : د ایلیپسی چاپیری:

$U \sim \pi (1,5 . [a+ b] - \sqrt{ab})$

او یا ګردي ته ورته ایلیپسی. دا په دې مانا چی $a \sim b$:

$$U \sim \pi . \sqrt{2(a^2 + b^2)}$$

دا فرمولونه، که $a = b$ وي د ګردي چاپیري ته ځي:

$$U = \pi(1,5 . [a+a] - \sqrt{a^2}) = \pi(3a-a) = 2\pi a = 2\pi <=>$$

اویا په په همدې توګه یا $\Leftrightarrow$

$$U = \pi . \sqrt{2(a^2 + a^2)} = \pi . \sqrt{4a^2} = \pi 2a = 2\pi r$$

بیلګه:

کوم خورا لویوالی د ښاغلی کړاو میز په ایلیپسي یانیضوي یا هګي ځیره لرودی شي ؟

لوي محور $a = 1m$ پاتي کیږي، کوچنی محور دی: $b = 95cm$، داچی میز باید د درځ ژوروالي پورې غوځ شي. نو له دې امله هواره ده:

$$F = \pi .1.0,95 = 2,985m^2$$

(c) ketabton.com: The Digital Library

چاپیری کیږي:

$$U \sim \quad 1(1{,}5.1.95 - \sqrt{0{,}95}\,)\ 6{,}127\ \text{m} \quad <=>$$

یا په همدې توګه د بیضوي یا هګۍ و د ګردی فورم ته یا ګردیځیرې ته نزدې فورم نیسي $U \sim 6{,}128$ m. له دې امله هګیځیره د میز لپاره مساعد اوبی یا حل دی.

تمرینونه

۱ – په کالیفورنیا کی د یوزیمیت ملي پارك Yosimite National Park ، خپل ماموت ونو (Mammutbaumbestände) له امله خورا مشهور دی. کوم چاپیری یی هغه ونه لري چی وړانګه یي ۷ ، ۴ متره وي؟

۲ – د لاس ساعت دقیقه ښونکی ۱،۵ سانتي متره اوږد دی(څرخونمحور– څوکه)، څوکه یی په یوه سانیه، یوه ساعت، یوه ورځ، یوه اونی، یوه کال کی څومره لار وهي؟

۳ – ځمکه نزدې ۶۳۷۸ کیلومتره یوه قطبي(اکواتور) وړانګه لري. قطبچاپیری یی څومره دی ؟

۴ – په خیال کی دې ولرو، چی له اکواتور یا قطب څخه یو پیری غزوو (۴۰۰۰۰ کیلو متره)، کوم چی د اکواتور یا قطب له چاپیري څخه یومتر اوږد دی. د یوه ځانګړي تخنیکی چمتووالی له لارې په هرځاي کی د ځمکی څخه په همغه واټن راوړل کیږي. ایا دا واټن پوره لوي دی چی سړی ددې ترمنځ یوه د (ګیرکلی) پاکي وځایوولی شي یا ځاي کړای شي؟

۵ – د غوڅهواره به یی د ځمکي سره څومره وي که د اکواتور یا قطب په اندازه جګ وي؟

۶ – په اکواتور یا قطب دوه ځایونه څومره لري دی، که یو له بل یوه اوږددرجی په

(c) ketabton.com: The Digital Library

اندازه لري وي.؟

۷ – د ګردۍ چاپيرۍ څنګه تغير خوري، که د هغه وړانګه دوه برابره شي يا په همدې ډول نيمه شي؟

۸– وښايي : د مربع هواره د څلور مياشتو (سپوږمیو) د هواري سره مساوي ده (څيره ۱۴۳).



څيره ۱۴۳

۹ – د څيرې سره سم د ګردیو هوارخوندي يا هوار دننه يا هوارمتن د مساوي وړانګي سره وټاکی. دا هره يوه د لويي ګردۍ په سلو کی څومره برخه جوړوي؟



څيره ۱۴۴

وښايي چی د څلورواړو ګردیو چاپيرۍ د همغی وړانګي سره دومره لوي دی لکه د راچاپيره يا دباندې ګردۍ چاپيرۍ.

۱۰ – د يوې مربع دباندې او دننه يوه ګردۍ راګرځيدلي. د دواړو ګردیو هوارې يو بل ته څنګه ځانونه نيسي (تناسب يا ځانتيونه)؟

(c) ketabton.com: The Digital Library

۱۱ – د دوه ګردیو منځ ټکی د مساوي وړانګي r = 7,2 cm سره، یو له بل دومره لري دي لکه دا وړانګه . د دواړو ګردیو ګډ هواره اندازه کړی، چې څومره ده؟

۱۲ – په یوه ګردی ، چې وړانکه یې r = 10 cm ده، که یوه ګردیکړی کیښول شي، چې هواره یې دومره لویه ده لکه د دننه ګردی هواره. د دباندې ګردی وړانګه به څومره وي؟



څیره ۱۴۵

۱۳ – د یوې ګردی برخهواړې، F_1 او F_2 ، لکه په څیره ۱۴۵کې چې ورکړ شوي، وښایي، چې وړانګه یې r = 4 cm وي. وښایي چې هواره په څلورو مساوي هوارو ټوټه شوې ده (څیره ۱۴۵)

۱۴ – د هغه ګردې وړانګه وښایي ، کوم چې همغه هوارخوندي لري لکه :

الف) یوه مربع، چې داړخ اوږدوالی یې ۵ سانتي متره وي.

ب) یوه روتی چې نیمي یې ۴ سانتي متره او ۶ سانتي متره وي .

پ) یو مساوي اړخیز دریکونجی چې د اړخ اوږدوالی ۷ سانتي متره وي.

۱۵ – د یوه پنډ پینسیل سره یوه ګردی وهل کیږي، چې دننی وړانګه یې ۵ سانتي متره وي. داچې پنسل یو سانتي متره پنډ دی ، نو دا په ریښتینی یوه ګردیکړی ده. د دې ګردیکړی هواره وشمیرئ.

۱۶ – یوه ساتلیت یا جوړه، یعنی مصنوعي سپوږمی، له ځمکی په یوه ګردی راڅرخي، چې سرعت یې په سانیه کې ۸ کیلو متره دی . د ځمکڅرخون لپاره

(c) ketabton.com: The Digital Library

دا ۱ ساعت او ۲۸ دقیقو ته
ضرورت لري. وښایي چې دا
ساتلیت یا جوړه سپوږمۍ یا
مصنوعي سپوږمۍ له ځمکې
څخه په کوم جګوالي الوزي؟

۱۷ – د یوه څرخونکړۍ یا بهتره
څرخونپټې په مرسته کیدی
شي څرخونحرکت یا
څرخونخوزون د یوې څپې په
بلې څپې راوړل یا واړول شي.
په یوه ورکشاپ کې یوه دقیقه
یعنی ډیره ټیک اره په بریښنا
ماشین چلول کیږي یا په حرکت
راوړل کیږي. د اړې خوزون یا حرکت څومره زر یا تیزدی یا چټک دی، که د
ماشینځرخونځرخی یا ګاډیل (r = 20 cm) په ثانیه کې ۸۰۰ ځله وګرځي؟



څیره ۱۴۶

۱۸ – کوم چاپیری او هواره الیپسی یا بیضوي یا هګیڅیره لري که ولر:

a) a = 40 cm, b = =12 cm, b) a = 6 cm, e = 1 cm

c) $r_1 = 4$ cm , $r_2 = 3$ cm , $w(r_1,r_2) = 90°$

۱۹ – وښایي: په یو په بل پرتو الیپسو کې دی $a_1 = a_2$ او $b_2 = b_1/2$ ، نو دننی
ایلپس بیضوي همدومره لویه ده، لکه په دې دپاسه ایلیپسي یا هګیڅیرې
غاړه.

۲۰ – ځمکه په یوه کال د لمر څخه نزدې د یوې ګردی په څیر راڅرخي. ددې
چاپیري وړانګه نزدې ۱۵۰ میلیونه کیلومتره ده.
الف) د څرخونلار اوږدوالی څومره دی ؟

(c) ketabton.com: The Digital Library

ب) په کوم منځنی سرعت (کیلو متره په ساعیه کی) ځمکه په خپل چاپیري راځرخي؟

پ) په ورځ کی ځمکه نزدې څومره واټن تی کوي ؟

ت) په ریښتونی ځمکه د لمر څخه په یوه ایلیپسی لار راځرخي، چی په یوه سوزون ټکي کی پخپله لمر قرار لري. د لته هغه لنډ واټن ځمکه لمر ۱۴۷ میلیونه کیلو متره دی، او لرې واټن یی ۱۵۳ میلیونه کیلو متره دی. په دې ورځیات ورکړو سره کوچنی نیممحور وښایي، او همدا ډول د ایلیپسي یا بیضوي هواره او (نزدې) چاپیری هم.

۲۱ – د ټولی هوارې کومه ټوټه برخه رنګ ده؟



ځیره ۱۴۷

۲۲ – د دوه ګردیو وړانګی ځان داسی نیسي یا په تناسب کی سره پرتی دي، لکه 5 : 8 په لویه ګردی کی یو ګردیبرخه موجود ده ، چی د هغی لینده دومره لویه ده لکه د کوچنی ګردی وړانګه $r = 10\ cm$. وشمیری.

(c) ketabton.com: The Digital Library

الف- منځټکي کونج

ب – د ګردیږخی هواره.

۲۳ – کوم منځټکي کونج په لیندې پورې اړه لري، چې

الف) ټیك همدومره لوي وی لکه وړانګه ؟

ب) دوه واره دومره لوي وی لکه وړانګه ؟

پ) نیم دومره لوي وی لکه وړانګه ؟

۲۴ – د یوې ګردیټوټونی منځ ټکي کونج وشمیری ، چی هواره یی همدومره لویه وي، که په وړانګه یی چی مربع .

۲۵ – یو مصنوعي ساتلیت یا جوړه سپوږمی ځمکه په ۲۰۰ کیلو متره جګوالي راګردوي یعني له ځمکي راګرځي یا بهتره له ځمکی راځرخي. د راځرخونوخت یی ۱ ساعت، ۲۸ دقیق او ۲۶ ثانیي دي.

الف – سرعت یی څومره لوي دی؟

ب – په یوه دقیقه کی څومره لار وهي؟

۳- کرښیزو څیروونو یا توابعو(فنکشنونو) ته ننوتنه:

(c) ketabton.com: The Digital Library

2.1.1.پیل یا ننوتنه:

د مخه درسونو څخه د کربنیزو (لاینې) توابعو(فنکشنونو) سره د ګراف په څیر بلد یو او د تابع مساوات سره د کربنیز مساوتو په څیر بلد یو. متناسبې اړیکې یا تناسب ټولګې یا ا ړیکې د کربنی په څیر انځوریدلای شي.

بیلګه:

په بازار کې د ماهي پلورونکي سره 1000 g ماهي 4,50 € قیمت لري، میرمن پښتنه غواړی 3000 g واخلي:

دا باید 4,50€.3=13,50E ورکړي. ښاغلی سپین 5000 g اخلی او باید: 4,50 € · 5 = 22,50 € ورکړي .

په ټولیزه توګه ویلای شو: دK ارزښت د ثابت قیمت p سره د رانیونکې ستې(ډېرۍ) xلپاره K=p.x دی.

یعنې قیمت K دx په واک کې دی یا دx تابع دی. ، له دې امله دx تابع او له دې امله فنکشن دی،

د دې لپاره لیکو : K(x) = p.x .

K(x) د ارزښت تابع یا فنکشن هم بلل کیږي

د ماهی لپاره د قیمت تابع (یا د نرخ فنکشن) دی، د کوم لپاره چې د ستې واحد(د ډېرۍ یوون) په € او x د 1000g څو ځله د ستې واحدونو شمیر دی .

که دK(x) په ځای y ولیکو، نو راته څرګند مساوات y = 4,50 x تري رامنځ ته کیږي. دا په کواوردینات سیستم (د وضعیه قیمت سیستم یا پروت ولاړ سیستم) کې د صفر له ټکي څخه تیرېدونکې یوه کربنه ده.

بیلګه :

(c) ketabton.com: The Digital Library

غورځنګ د ملفون (موبایل یا لاسي تلفون) قرارداد کړی، چې د میاشتي 20 € ورکوی او د دقیقي د تلفون قیمت یې 0,2 € دی. پوښتنې.

الف: څومره باید غورځنګ تادیه کړی، که دی 30 min, 60 min, 90 min, 120 min تلفون وکړي.

ارزښت په یوه ارزښتجدول کي انځور کړی.

ب : په یوه مناسب وضعیه قیمت سیستم کي یې ګراف رسم کړی.

پ: د ارزښتشمیرني لپاره یې د تابع مساوات څنګه دی؟

حل و الف ته : قیمت له یوه زیاتیدونی یا جمعي ثابت (20 €) او (0,2 x) واریابلي یا متحولي برخي څخه منځ ته راځي، چیرته چې x د تلفون شوو دقیقو تعداد دی.

د خبرو دوام په دقیقو	0	30	60	90	120
قیمت په €	20	26	32	38	44

اوبي یا حل و ب ته: ګراف، y قیمت په €، پروت: په دقیقو د خبرو دوام



حل و پ ته:

x په دقیقو د خبرو خپلواکه متحوله ده y = f(x) په € د ټولي میاشتي د ټول مصرف بلواکه متحوله یا تابع ده . په لاندي شمیرنه کي یوونونه(واحدونه) دقیقی او€ یورو نه لیکل کیږي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

. داسې مخ ته ځو:

بنسټ پیسې باید تادیه شي د x دقیقو دوام لپاره د تابع مساوات	$0 \ \min: y = f(0) = 0,2 \cdot 0 + 20 = 20$ $30 \min: y = f(30) = 0,2 \cdot 30 + 20 = 26$ $60 \min: y = f(60) = 0,2 \cdot 60 + 20 = 32$ ..... $x \min: \ y = f(x) = 0,2 \cdot x + 20$

بیلګې :

د تابع مساواتو جوړښت لپاره بیلګې:

یو د اوبو ډنډ 1000 لیتره اوبه لري.. هره رڼ دې ته 100 لیتره نورې اوبه راځي.

د اوبو ډېرې یا - ستې لپاره د تابع مساوات داسې دي. : $f(x) = 100 \cdot x + 1000.$

اباسین هره میاشت € 1300 معاش اخلي. د معاش لپاره فرمول په € یورو.

د معاش لپاره د تابع مساوات دی: $f(x) = 1300 \cdot x$:

یو ټانک 4000لیتره ډیزل لري. یو موټر هره روځ 500 لیتره مصرفوي.

د ټانک منځپانګې لپاره د تابع مساوات : $f(x) = -500 \cdot x + 4000.$

که د تابع متناسب اړیکې برقرار کیږي، نو لاندې فکر اړین دی:

ایا یو پیل ارزښت a_0 شته ؟

د منځ تغیر ارزښت څومره دی (د بیلګې په توګه هره روځ، دقیقه یا وزن).

(c) ketabton.com: The Digital Library

تغير ارزښت زياتيز يا مثبت يا کميز يا منفي ډی(مثبت = زياتيدنه، منفي = کميدنه)

کرښيز برابرون يا مساوات په لاندې بڼه پيژنو:

$y = m \cdot x + n$ يا $y = m \cdot x + b$

دا چې کرښيز مساوات د ټول راشنل توابعو کورنۍ پورې اړه لري، چې د لوړو ټولګيو موضوع ده، نو انځوريز ډول يې له پيله په همدې ډول منځ ته راغلی دي.

تعريف :

n -مه درجه ټول راشنل- يا نسبتي توابع:

يوه تابع f(x) د $f(x) = a_n x^n + a_{n-1} x^{n-1} + a_{n-2} x^{n-2} + \ldots + a_2 x^2 + a_1 x + a_0$ سره
n -مه درجه

ټول راشنل يا ټول نسبتي تابع بلل کيږي.

عددونه $a_n ; a_{n-1} ; a_{n-2} ; \ldots . a_2 ; a_1 ; a_0$ ضريبونه (ځلوه ووني) بلل کيږي.

دا چې دواړه اخرني زياتووني يا د جمعې برخې $a_1x + a_0$ په کرښيز و مساواتو اړه لري، تعريف تر لاس ته راځي:

تعريف يا پيژند: ټول د لومړۍ درجې راشنل توابع :

يوه تابع f(x) د $f(x) = a_1 x + a_0$ سره او $a_1 \in \mathbb{R}, a_0 \in \mathbb{R}$ سره د 1- درجې ټول راشنل تابع بلل کيږي

د تابع درجه د x د خورا لوی اکسپوننت يا جګ عدد (چې دلته 1 دی، ځکه چې x $= x^1$) ټاکل کيږي.

دلته ضريب a_1 د m او a_0 د b يا n لپاره ليکل شوی.

(c) ketabton.com: The Digital Library

د ،، کربنيز ې يا لاينيز تابع،، اړيکي په دې ودانې دي، چې د کربنيزې تابع ګراف په وضعيه قيمت سيستم (پروت ولاړ سيستم) کې يوه کربنه انځوروي.

په ياد ولرئ: د کربنيزې تابع ګراف يوه کربنه انځوروي.

بيلګه: د کربنيز تابع د تابع مساواتو لپاره بيلګې:

$$f(x)=2x-13 \quad f(x)=\frac{3}{4}x+3 \quad f(x)=-\sqrt{3}\cdot x-\pi \quad f(x)=5 \quad f(x)=3x+a_0 \quad f(x)=a_1x$$

.

تمرين ۱ :

د D ټول عددي (تام عددي) ارزښت لپاره ارزښتجدول وليکئ او د ګراف رسم يې وکاږئ.

$$f(x)=\frac{3}{4}x-3$$ تعريف ست $$D=\{x\mid -1\le x\le 5\}_{\mathbb{R}}$$

د تعريفست D لپاره د ارزښت ست W وټاکئ.

ګراف په کومو ټکو کې د وضعيه قيمت سيستم محورونه قطع کوي؟

۳.۱ - .د محور غوڅتکي (د تقاطع ټکي)

محور غوڅتکي (د تقاطع نقاط) هغه ټکي دي په کومو کې چې ګراف د وضعيه قيمتونو محورونه غوڅوي يا قطع کوي.	

دا ارزښتونه لږ يا زيات له ګراف څخه هم لوستل کيدی شي.

زيات وخت دا د ارزښتجدول څخه هم لوستل کيدی شي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

اوس موخه دا ده چې دا ارزښتونه د ګراف او يا جدول ټاکلو لپاره وکارول شي يا استعمال شي.

P_y د y محور سره د تقاطع- يا غوټکي ټکی (Ordinate) :

د ټولو ټکو دx ټول ارزښتونه چې دy په محور پراته دي ارزښت x = 0 لري.

د لاينيزو (کربنيزو) توابعو عمومي مساوات يا - برابرون : $f(x) = a_1 x + a_0$

شرايط: $x = 0 \Rightarrow f(0) = a_1 \cdot 0 + a_0 = 0 + a_0 = a_0 \Rightarrow P_y(0 \mid a_0)$

د y محور سره د تقاطع ټکی د a_0 له خوا - يا سره ټاکلی.

بيلګه:

$$f(x) = \frac{3}{4}x - 3$$

له دې لاس ته راځي چې : P_y کواوردينات (0,-3) لري. د دې لپاره ليکو: $P_y(0,-3)$

په ياد ولرئ: د y محور سره د تقاطع ټکی د $f(x) = a_1 x + a_0$ بڼې د ټولو کربنيزو توابعو لپاره کيدی شي مستقيماً له تابع مساوات څخه و لوستل شي. له دې څخه لاس ته راځي: $P_y(0, a_0)$

P_x د x محور يا پراه محور سره غوټکی يا د تقاطع ټکی(Abszisse) :

د ټولو ټکو د y ارزښت (د تابع ارزښت) ، چې دx په محور پراته دي، ارزښت 0 لري.

حل: د $P(x \mid f(x))$ له امله لرو: $P_x(x \mid 0) \Rightarrow f(x) = 0$

(c) ketabton.com: The Digital Library

بیلګه:

د لاندې تابع د محورونو سره د تقاطع ټکي وټاکئ او ګراف یې رسم کړئ.

$$f(x)=-\frac{2}{3}x+\frac{3}{4}$$

د y محور سره د تقاطع ټکی

$$f(0)\Rightarrow P_y\left(0\,|\,\frac{3}{4}\right)$$

د x محور سره د تقاطع ټکی

$$f(x)=-\frac{2}{3}x+\frac{3}{4}=0\Leftrightarrow -\frac{2}{3}x+\frac{3}{4}=0\,|-\frac{3}{4}$$

$$\Leftrightarrow -\frac{2}{3}x=-\frac{3}{4}\,|\cdot\left(-\frac{3}{2}\right)\Leftrightarrow x=x_s=\frac{9}{8}$$

$$\Rightarrow P_x\left(\frac{9}{8}=1{,}125\;\middle|\;0\right)$$



د x محور سره د تقاطع ټکی د x کواوردینات (پروت سیستم) هم صفرځای بلل کیږي.

ځکه چې د دې x- ارزښت لپاره (په دې ځای کې x) د تابع ارزښت صفر دی.

تمرین ۲ :

د محورونو سره د تقاطع ټکي وشمیرئ او د $f(x)=-\frac{2}{3}x+\frac{3}{4}$ لپاره ګراف و کاږئ.

او په f(x)کې د ایښوولو سره صفرځایونه و ازمایئ.

(c) ketabton.com: The Digital Library

۳.۲- جګيدنه(جګوالی) يا ميلاند :

زيات ګاډي يا موټر کړی شي فقط کم جګوالی ووهلی شي. له دې امله په غرونو کې غاښيز ې پټلی يا د پرو (د وسپنې پرو) (د جګيدن کوټې لپاره) کيښول کيږي يا نسبيږي يا غزيږي، دا هم د مايلو واټنونو لپاره.:

د سرکتخته باندې ،، 12%جګوالی،، په دې معنا دی: په 100 m متره پروت (افقي) واټن په 12 m متره جګيږي. په لاندې کې Steigungsdreieck = د جګيدنې درېګوډی  	

دجګوالی توپير او پرتې يا افقی کرښې په منځ کې تناسب جګوالی يا ميلان بلل کيږي.

په انځور شوی حالت کې دی: $12\,m : 100\,m = 0,12 \triangleq 12\%$

پيژند(تعريف):	لاندې المانې په پښتو:
جګوالی=m = مخامخ اړخ پر پروت يا ګاونډې	ولاړ:مخامخ اړخ، پروت: په

(c) ketabton.com: The Digital Library

اړخ برابر تانجنت $\text{جګوالی} = m = \frac{\text{مخامخاړخ}}{\text{په پروت اړخ}} = \tan\alpha$ کونج α د جګوالي کونج هم بلل کيږي.	پروت اړخ 
 	په څنګ کې تشکيل ګراف کې يوه سرچينه يزه کربنه جوړه ده، چې له ټکو P_1اوP_2 څخه تيرپږي. د کربنې جګوالی دې د ټکو او کواوردیناتو په مرسته پیدا شی. د ګاونډي او مخامخ اړخونو اوږدوالی د د دواړو ټکو د کواوردیناتو دکمښت(تفریق) له لارې کره شوی. د کمښت یا توپیر لپاره لیکو: $\Delta x = x_2 - x_1$ $\Delta y = y_2 - y_1$ همداسې

قضیه:

د جګيدنې مثلث څخه د کربنې جګوالی شمیرل کیدی شي:

$$\text{جګوالی} = m = \frac{\Delta y}{\Delta x} = \frac{y_2 - y_1}{x_2 - x_1} = \frac{f(x_2) - f(x)_1}{x_2 - x_1} = \tan(\alpha)$$

(c) ketabton.com: The Digital Library

په یوه کواوردیناتسیستم کې د کربنې جګوالی د یوه په خوښه قایمالزاویه مثلث (ولاړګوډیز درېګوډی) د پراته اړخ په مخامخ اړخ تناسب دی ، چې اوږد اړخ یا نیمی یا قطر Hypotenuse یې د تابع د ګراف برخه ده.

ګومان مو نږدې دی، چې د a_1 ضریب د کربنې مساواتو $f(x) = a_1x + a_0$ د جګوالي دنده په غاړه لري.

دا باید اوس وښوول شي.

غوښتنه:

جګوالی m د کربنمساواتو ضریب a_1 په ګوته کوي..

$$f(x) = a_1x + a_0$$

ښوونه:

$$f(x_2) = a_1x_2 + a_0 \qquad f(x_1) = a_1x_1 + a_0$$

$$m = \frac{\Delta y}{\Delta x} = \frac{f(x_2) - f(x_1)}{x_2 - x_1} = \frac{a_1x_2 + a_0 - (a_1x_1 + a_0)}{x_2 - x_1}$$

$$= \frac{a_1x_2 + a_0 - a_1x_1 - a_0}{x_2 - x_1} = \frac{a_1x_2 - a_1x_1}{x_2 - x_1} = \frac{a_1(x_2 - x_1)}{x_2 - x_1} = a_1 \Rightarrow \underline{\underline{m = a_1}}$$

جمله :

د یوه کربنیز تابع $f(x) = a_1x + a_0$ د ګراف جګوالی چې له ټکو $P_1(x_1, y_1)$ او $P_2(x_2, y_2)$ څخه تیریږي د ضریب a_1 لخوا ټاکل کیږي.

$$a_1 = \frac{\Delta y}{\Delta x} = \frac{y_2 - y_1}{x_2 - x_1} = \frac{f(x_2) - f(x_1)}{x_2 - x_1} = \tan\alpha$$

په لنډه بڼه $\underline{\underline{a_1 = \frac{y_2 - y_1}{x_2 - x_1}}}$

که د یوې کربنې دوه ټکي د کواورردیناتي له لارې ورکړ شوي وي، نو کیدی شي، چې

(c) ketabton.com: The Digital Library

اول . کربنې رسمیږي، که دواړه ټکي سره و نښلول شي او دا داسې مځ ته راغلي کربنه له ټکو اخوا وغزوي.

دویم. د کربنې جګوالی د د جګوالي مثلث په مرسته وشمیرئ

بیلګه :

$P_1(-1|-2)$ او $P_2(3|1)$

دې د یوې کربنې ټکي وي، چې جګوالی یې ټاکل کیږي



$P_1(\underset{x_1}{-1}|\underset{y_1}{-2}) \Rightarrow x_1 = -1$ او $y_1 = -2$

$P_2(\underset{x_2}{3}|\underset{y_2}{1}) \Rightarrow x_2 = 3$ او $y_2 = 1$

$$a_1 = \frac{y_2 - y_1}{x_2 - x_1} = \frac{1-(-2)}{3-(-1)} = \frac{1+2}{3+1} = \frac{3}{4} = tg(\alpha)$$

$$\alpha = arctg\left(\frac{3}{4}\right)$$

د جبشمیري په مرسته لرو:

$$\Rightarrow \alpha \approx 36,87^{o}$$

۳.۳- د توابعو د ګراف رسمول

د کربنیزې تابع ګراف تل کربنه ده. د یوې کربنې د رسمولو لپاره دوه ټکي اړین یا ضروري دي. که د تابع مساوات معلوم وي، نو د y محور سره غوښتکی یا د تقاطع ټکی P_y هم پیژنو. دویم ټکی د جګوال له لارې لاس ته راوړی شو(د جګوالي مثلث).

(c) ketabton.com: The Digital Library

بیلګه :

$$f(x) = -0,5x - 1$$

$$a_1 = -0,5 = -\frac{1}{2} \qquad a_0 = -1$$



ګراف د y محور په P_y (0,-1) کې غوڅوي یا قطعه کوي. دا ټکی په کواوردینات سیستم کې رسموو. د P_y څخه دوه واحده یا یونونه ښي لورته څو او یو واحد یا یوون کښته لور ته. موږ P(2,-2) لاس ته راوړو. اوس P_y د P سره نښلوو او کرښه دواړو لورو ته غزوو.

که غواړو د کرښې له یوه ټاکلي ټکي څخه، د جګوالي مثلث له لارې دویم ټکي ته راشو، کیدی شي دا لاندې لنډه بڼه په یاد کې ونیسو:

په یاد ولرئ: د مخرج واحدونه یا یوونونه ښي لور ته ، د صورت واحدونه یا یوونونه د مخنځې په واک یا تابعیت کې پورته یا کښته لور ته.

دلته باور لري: د + لپاره پورته لور ته او - لپاره کښته لور ته

که دواړه ټکي ډېر نږدې پراته وي دا تلنلار کیدی شي ډېرواره و کارول شي. که د جګوالي ضریب a_1 یو ټول(تام) ګڼ یا عدد هم وي، دویم ټکی په دې ډول ټاکل کیدی شي، ځکه چې هر ګڼ یا عدد کیدی شي په کسر بدل شي.

بیلګه: ټکی P(-3,2) په کرښه پروت دی، چې جګوالی یې a1=-1 دی.

$$a_1 = -1 = -\frac{1}{1}$$

که څلور پله مخ ته لاړ شو، نو دواړه ټکي یو له بل پوره لرې پراته دي چې یوه سوچه کرښه رسم کړای شو.



(c) ketabton.com: The Digital Library

له P څخه هر ځل څلور پله يا قدمونه ښي لورته ځو او يو پل کښته لورته او تکي P_1 لاس ته راوړو. څلور پله ښي لور او څلور پله کښته لور ته مو همغې برابري نتيجې ته بيايي.	
بيلګه: $y = f(x) = 2x + 3$ $a_1 = 2 = \frac{2}{1}$ $a_0 = 3$ $P_y(0\mid 3)$ د y محور په ګراف کې غوڅوي. دا تکی په پروتولاړ – يا کواودينات سيستم کاړو. له P_y يو يوون (واحد) ښي لور ته ځو او دوه يوونه پورته لور ته. موږ تکی P(1;5) لاس ته راوړو. اوس P_y او P سره تړو او کرښه دواړولورو ته غزوو.	

2.1.5.تمرينونه :

د محورونو د تقاطع تکي وشميرئ او کرښې رسم کړئ.

د لاندې کرښو ګرافونه د امکان تر حده بې له جدول څخه رسم کړئ.

د دې لپاره د y محور او د جګوالي مثلث څخه کار واخلئ. او x محورسره د تقاطع تکی وشميرئ او د ګرافونو له مخې يې و ازمايئ.

اول – $f(x) = 2x - 5$ دويم - $f(x) = -x + 3$ دريم - $f(x) = \frac{1}{2}x + 1$

خلورم - $f(x) = -\frac{1}{2}x - 2$ پنځم - $f(x) = \frac{1}{3}x - \frac{1}{2}$ شپږم - $f(x) = -\frac{1}{4}x + \frac{3}{2}$

(c) ketabton.com: The Digital Library

اوم - $f(x)=\frac{2}{3}x+2$ تم - $f(x)=-\frac{3}{4}x-1$

نهم - $f(x)=-3x+\frac{5}{10}$ لسم - $f(x)=\frac{5}{7}x-\frac{12}{4}$

۳.۴- کلیمې او د انځورولو ډولونه یې

د f(x)تابع ګراف لیدشکل K_f هم بلل کیږي.

په ولاړکونجیز - یا قایم االزاویه کواوردینات کې هر ټکی P یوx او y کواوردینات P (x | y) لري.

د x کواوردینات د f(x) تابع مستقله یا خپلواکه متحوله ده.

د y کواوردینات دf(x) تابع ارزښت په ګوته کوي. له دې امله زیات وخت د دې لپاره لیکدود y = f(x) استعمالول کیږي.

د کرښیزو توابعو لپاره په ځانګړي ډول لاندې لیکدود عادي دی:

y = f(x) = mx + b د کرښې مساوات بلل کیږي او فقط د $f(x)=a_1x+a_0$ لپاره بل لیکندود دی، کوم سره چې $m=a_1 \wedge b=a_0$ باور لري.

۳.۵- کرښیز مساوات په مختلفو اشکالو رامنځ ته کیدل:

د کرښیز مساوات عمومي بڼه:

Ax + By + C = 0

(c) ketabton.com: The Digital Library

بیلګه: $3x + 2y + 4 = 0$

د کرښیز مساوات د محور برخو په بڼه

$$\frac{x}{a}+\frac{y}{b}=1$$

$$\frac{x}{3}+\frac{y}{2}=1$$

بیلګه:

د نورو شمیرنو لپاره هدفمند دی، چې دا مساوات په لاندې معلومه یا پیژندل شوې بڼه راوړو:

$y= f(x)=a_1x+a_0$ یا $y = f(x) = mx + b$

تمرینونه۳:

K_fدf کرښیزې تابع لیدعکس دی د $f(x)=1,5x-2;\ x\in\mathbb{R}$ سره .

د یوې f تابع د کرښیز لیدځیره K_f د تابع ګراف هم بللګیرۍ.

الف – ایا ټکی $P(2,5\,|\,1,75)$ د K_f په کرښه پروت دی؟

ب - ټکي $A(x_A\,|\,4)$ او $B(-2\,|\,y_B)$ په K_f پراته دي. x_A او x_B وټاکئ.

پ – د f(x) صفرځای وشمیرئ.

ت – د کوم x -ارزښت لپاره $f(x) > 0$ باور لري؟

ټ – د f(x) ارزښتورشو یا ساحه وټاکئ، که $D=R_+^x$ و ټاکل شي.

ث – ګراف g د K_f راکښنې له لارې ، چې د y په لور منځ ته راځي او له ټکي $N(4\,|\,0)$. تیرېږي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

بيلګه:

د ،، پومس (سره شوي الوګان)،، ګړندی رستورانت د پومس لپاره هره ورځ 19 kg تازه غوړي په کار لري. تر اوسه په لاګر يا زخيره ځای کې 250 kg شتون لري.

الف – د تابع مساوات وکاږئ او په يوه مناسب کواوردیناتسیست (پروتولاړ سیستم) کې يې ګراف رسم کړئ.

ب – په لاګر کې د95 kg پاتې غوړيو ورسته بايد د رستورانت مشر د نورو پوښتنه وکړي(فرمايش ورکړي). له څو ورځو ورسته بايد دا فرمايش صورت ونيسي؟

پ – دا غوړي څومره دوام لرودی شي، که سملاسي پسې را ونه غوښتل شي؟

الف ته حل -

خپلواک اووښتوني يا متحوله x د وخت لپاره ده چې په ورځو يې ښايو. بلواکه متحوله يا تابع متحوله f(x) د پاتې ستې (ډېرئ) په کيلوګرام غوړيو لپاره ده. پيل ارزښت 250 kg دی. د تغيرکچه منفي(کميزه) ده او 19kg/Tag يا ورځ / ۱۹ کيلوګرام ده. دا چې کربنيزي اړيکي شتون لري، نو باور لري: $f(x) = a_1x + a_0$ د $a_1 = -19$ او $a_0 = 250$ سره کيږي $f(x) = -19x + 250$	ولاړ: ډېرئ يا ستې په کيلوګرام  وخت په ورځو

(c) ketabton.com: The Digital Library

ب ته حل – د 95 kg فرمایش ورکولو سره لاندې باور لري:

$$f(x)=95 \Leftrightarrow -19x+250=95 \mid \cdot(-1)$$
$$\Leftrightarrow 19x-250=-95 \mid +250$$
$$\Leftrightarrow 19x=155 \mid :19$$
$$\Leftrightarrow x=\frac{155}{19}\approx 8{,}156$$

فرمایش باید د 8 ورځو په شاوخوا کې صورت ونیسي.

پ ته حل – د y -محور سره د ګراف د تقاطع یا غوڅتکی دې وټاکل شي:

$$f(x)=0 \quad \Leftrightarrow -19x+250=0 \mid \cdot(-1)$$
$$\Leftrightarrow 19x-250=0 \mid +250$$
$$\Leftrightarrow 19x=250 \mid :19$$
$$\Leftrightarrow x=\frac{250}{19}\approx 13{,}158$$

غوږي لا نږدې تر 13 ورځو رسیږي.

2.1.7.د تمرینونو حل :

تمرین ۱ : تمرین ۱ : د D ټول ګنیز(تام عددي) ارزښت لپاره ارزښتجدول ولیکئ او د ګراف رسم یې وکاږئ.

$f(x)=\frac{3}{4}x-3$ تعریف ست $D=\{x \mid -1\le x\le 5\}_{\mathbb{R}}$ ،

د تعریفست D لپاره د ارزښت ست W وټاکئ.

ګراف په کومو ټکو کې د وضعیه قیمت سیستم محورونه قطع کوي؟

حل :

(c) ketabton.com: The Digital Library

$$f(x)=\frac{3}{4}x-3 \qquad D=\{x\mid -1\le x\le 5\}_{\mathbb{R}}$$

$$f(-1)=\frac{3}{4}\cdot(-1)-3=-\frac{3}{4}-3=-\frac{3}{4}-\frac{12}{4}=-3,75$$

$$f(0)=\frac{3}{4}\cdot 0-3=-3$$

$$f(1)=\frac{3}{4}\cdot 1-3=\frac{3}{4}-3=\frac{3}{4}-\frac{12}{4}=-\frac{9}{4}=-2,25$$

$$f(2)=\frac{3}{4}\cdot 2-3=\frac{3}{2}-3=\frac{3}{2}-\frac{6}{2}=-\frac{3}{2}=-1,5$$

$$f(3)=\frac{3}{4}\cdot 3-3=\frac{9}{4}-3=\frac{9}{4}-\frac{12}{4}=-\frac{3}{4}=-0,75$$

$$f(4)=\frac{3}{4}\cdot 4-3=3-3=0$$

$$f(5)=\frac{3}{4}\cdot 5-3=\frac{15}{4}-3=\frac{15}{4}-\frac{12}{4}=\frac{3}{4}=0,75$$

جدول او گراف:

x	-1	0	1	2	3	4	5
f(x)	-3,75	-3	-2,75	-1,5	-0,75	0	0,75



$$W=\{y\mid -3,75\le y\le 0,75\}_{\mathbb{R}}$$

$P_x(4\mid 0)$ او $P_y(0\mid -3)$

تمرین ۲ -

(c) ketabton.com: The Digital Library

د محورونو سره د تقاطع ټکي وشمیرئ او د $f(x)=-\frac{2}{3}x+\frac{3}{4}$ لپاره ګراف و کاږئ.

لکه چې په یاد راوړل شو، د همغه دریګوڼي اړخونوa او b په شمیرنه کې

د ساین جمله :

په خوښه دریګوڼي کې د اړخونو خانیونه یاتناسب د اړخونو مخامخ کونجونو د ساین خانیونه یا تناسب دی.

$$\sin\alpha / \sin\beta = a / b \qquad \sin\beta / \sin\gamma = b / c$$
$$\sin\gamma / \sin\alpha = c / a$$

د ساین جمله په پخ دریګوڼي کي هم باورلري(تمرین دې وکتل شي). ددې سره په یوه دریګوڼي کی نه موجودي ټوټي هلته شمیرل کیږي، چیرته چی دوه اړخونه او یو مخامخ کونج یا دوه کونجونه او یو مخامخ اړخ ورکړ شوی وي.
سړی بیا څه کوي که دریواړه اړخونه ورکړ شوي وي او یا دوه اړخونه او د هغوتر منځ راګیر کونج؟

(c) ketabton.com: The Digital Library

پیلبیلګه : په یوه د ډبروسکرو کان کی دوه ستنی $b = 350\ m$ او $c = 480\ m$ دي او یو کونج $\alpha = 65°$ سره بندوي.
د B څخه و C ته به د نښلولو ستن یا تیر څومره لوي وي ؟



څیره ۲۰۳

اوبی یا حل :
جګوالی یا جګی h_c کرښه $AB = c$ په دوه ټوټو x او c-x ویشي.
دلته دی $x = b.\cos\alpha$ ،
ځکه چی $\cos\alpha = x / b$ دی . د پیتاګوراس د جلی له مخی
لرو : $h_c^2 = b^2 - x^2$
او

$$a^2 = h_c^2 + (c-x)^2 .$$
$$a^2 = h_c^2 + c^2 + x^2 - 2cx$$
$$a^2 = b^2 - x^2 + c^2 + x^2 - 2cb\cos\alpha$$
$$\Rightarrow a^2 = b^2 + c^2 - 2bc\cos\alpha$$

(c) ketabton.com: The Digital Library

د اړخونو اوږدوالی نومونی او کونج کیدی شي چې منظم بیرته راګرځیدونکی (ځیکلیکي یوناني کلیمه ده ګردی ډوله یا منظم بیرته راګرځیدونکی zyklisch) یو بل سره بدل شي» له دې امله باور لري

کوساین جمله

$$a^2 = b^2 + c^2 - 2bc.\cos \alpha$$
$$b^2 = a^2 + c^2 - 2ac.\cos \beta$$
$$c^2 = a^2 + b^2 - 2ab.\cos \gamma$$

په هر یوه دریګوډي کی د هر اړخ مربع مساوي ده، د نورو دواړو اړخونو د مربع زیاتون سره تړې کم دوه ځله د دې دوه اړخونو ځل او ددې دوه اړخونو رابند شوي کونج کوساین سره ځل.

د کوساین جمله د پیوتاګوراس د جملی عمومیت یا ټولیز ته هم وایي. (تمرین ۶ مخ دې وکتل شي)

د کونجبلواك له لارې یو بل متود، د ډیرګوډي شمیرلو لپاره ، تر څو دا په دریګوډیو ویشل کیدی شي چې پوره اړخونه او کونجونه یې څرګند وي، پیدا شو.

د دې ټولو سره د څلورګوډي یو وربرسیره بل د شمیر فرمول پیداشو:

$$A = 0,5.d_1.d_2.\sin \alpha$$

چیرته چې $\alpha = w(d_1; d_2)$ وي .

اوبی یا حل : $A=0,5(d_2h_1 + d_2h_2)$

که d_1 په e اوf ټوټه یا تجزیه شي ، نو لرو

$$h_1 = e \cdot \sin \alpha$$
$$h_2 = f \cdot \sin \alpha$$
$$\Rightarrow A = 0,5 \cdot d_2(e + f) \sin \alpha$$
$$\Rightarrow A = 0,5 \cdot d_2 d_1 \sin \alpha$$

(c) ketabton.com: The Digital Library



څيره۲۰۴

د په خوښه کونجونو تريګونومتريکي بلواکي

په اخره برخه کی مو وويل، چی کونجبلواك، نه يواځی د دننه لورته تيرو دريګوډيو لپاره ، بلکه د هغو کونجونو لپاره چی له ۹۰ درجو لوي وي ، هم هدفمند (موخور) تشريحوړ دي. له دې وروسته کونجبلواکو خپله پوره موخه يا هدف تر لاس کړ.

دا پراختيا څنګه تصور يا د خيالوړ کيدی شي ؟

په ښه توګه داسی کيدی شي چی په يوه ولاړ پروت سيستم يا کواوردیناتسيستم کی يوه ګردی ووهي چی وړانګه يي ۱ يعنی يو يوون يا واحد دی (دې ته يوونګردی ويل کيږي، ځکه چی وړانګه يی يو يوون دی) او د ګردی منځټکی او د پروت ولاړ سيستم کواوردينات سرچينه يو په بل پريوځي . نو بيا هر دريګوډی، چی د هغی يو کونج د ګردی څنتريکونج دی، يعنی کونج يی د ګردې په منځ يا څنتر پروت دی، (څيره۲۰۴) کم له کمه يی يو اړخ ۱ يعنی يو يوون اوږدوالی لري. دا د دريګوډی په دننه کی شميرنه او اړيکي اسانه کوي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

لمړی د یوه ولاړ کونجیز دریګوډي څخه پیل کوو، چې په لمړي لمړي څلورمه یا کوادرانت (Quadrant) کې پروت د ی . نو هیپوتینوزې ۱ اوږدوالی لري، او په ګردی ،د کونجټګی $P(x|_0y_0)$ په پام کې نیولو سره، باور لري:

$$\sin\alpha = y_0 / 1 = y_0 , \quad \cos\alpha = x_0 / 1 = x_0$$

دا کربنی د پریوستون او یا د سیورېدرخونو په څیر لاس ته راځي، که مور وړانګه د یوه ټالوهونکی مړوند په څیر ونیسو یعنی فرض کړو، کوم چې د محورغبرګي رښا لاندې راشی.

په دې ولاړ کونجیز دریګوډي کې کیدی شي چې د پیتاګوراس جمله وکارول شي:



خیره ۲۰۵

تریګونومتریکي پیتاګوراس:

$$\sin^2\alpha + \cos^2\alpha = 1$$

چیرته چې $\sin^2\alpha = \sin\alpha . \sin\alpha$ په مانا دی.

کیدی شي ، چې پوښتنه وشي چې همدا « سیوری » بیا کله لاس ته راتلی شي. دا حالت بیاتېك هلته لاس ته راځي، چې وړانګه د منفي x –محور سره یو کونج α جوړ کړي، یعني څنتریکونج یې $180° - \alpha$ وي.

د « سیوروځیرو » څخه لاس ته راځي:

$$\sin (180° - \alpha) = \sin\alpha$$

$$\cos (180° - \alpha) = - \cos\alpha$$

(c) ketabton.com: The Digital Library

خکه چی دا سیوری همغومره اوږد
دی لکه د مخه، مگر اوس له صفر
پیل مخامخ (منفی) لور بنایي.

په ورته توگه لاس ته راځی :



ځیره ۲۰۶

$$\sin(180° + \alpha) = -\sin\alpha;$$
$$\cos(180° + \alpha) = -\cos\alpha$$
$$\sin(360° - \alpha) = \sin(-\alpha) = -\sin\alpha;$$
$$\cos(360° - \alpha) = \cos(-\alpha) = \cos\alpha$$

د کونج $\alpha + 360°$ لپاره بیرته د سرچیني کونج اړیکی لاس ته راځي: همدا ډول د $\alpha + 720°$ لپاره اوهمداسی نور. په دې توگه د په خوښه کونجفنکشنونو یا کونجبلواکو لپاره د ساین او کوساین بلواك تعریف دي.

د $\tan\alpha = \sin\alpha / \cos\alpha$ له املې (مقایسه مخ ۱۵۱) دا د تنجنت بلواك لپاره هم صدق کوي. له دې املې لاندې د بلواکګرافونه لاس ته راځی

ځیره ۲۰۷



Die **Sinuskurve**: $y = \sin x;\ x \in \mathbb{R};\ y \in [-1; 1]$

د ساین کرښه

(c) ketabton.com: The Digital Library



خیره ۲۰۸

Die **Tangenskurve**: $y = \tan x;\ x \in \mathbb{R} \setminus \{x \mid x = (2z+1)\frac{\pi}{2} \wedge z \in \mathbb{Z}\};\ y \in \mathbb{R}$



خیره ۲۰۹

کوسائین کرو

Die **Kosinuskurve**: $y = \cos x;\ x \in \mathbb{R};\ y \in [-1; 1]$

(c) ketabton.com: The Digital Library



ځيره ۲۱۰

Die **Kotangenskurve**: $y = \cot x;\ x \in \mathbb{R} \setminus \{x \mid x = z \cdot \pi \wedge z \in \mathbb{Z}\};\ y \in \mathbb{R}$

لينده اندازه (لينده کچ) Das Bogenmaß

په زړه درجه د کونجکچ يا – اندازې سره بلد يو (دمخه وليدل، چې ۳۶۰ درجې پوره ګردی ښايي. هغه، چې لږ ورسره بلد يو يا زيات ورسره بلد نه يو، هغه نوې درجه ده ، چې ګردی په ۴۰۰ مساوي برخو ويشل کيږي. دا په دواړو کچيوونونو يا کچواحدونو کې ګڼ دي، چې په ګڼونو اندازه کيږي، بې له کچ يوون ارزښتډيری رييلګڼونه دي، په داسې حال کې چې وتل ګڼونه (= د تعريف ډيري ګڼونه) يو يوون يا واحد (درجه يا ګون) لري. دا په کارونه يا عمل کې مو زيات وښت د خنډ سره مخامخ کوي. له دې امله د لينديز کچ سره د کونجکچ لپاره يو ور زيات امکان پيدا شو.

(c) ketabton.com: The Digital Library

کونج لويي په واقعيت کی يوون «راد (rad) » لري، مګر دا په کارونه يا عمل کی کيدی ونه ليکل شي يا صرف نظر پرې وشي، که بدلون ته مو نه راهڅوي. دا کونجکچونه چی د کونج لپاره په تريګونومتريکی بلواکو کی ايښودل کيږی (د بيلګې په توګه sin) ارګومنت (Argument تعريفږيری) بلل کيږي. په تعريفږيري کی کيدی شي چی نوې درجه ، زړه درجه او يا لينده کچ وکارول شي. کاروونکی دې پام ولري چې په جبشميري کی همغه مودوس په کار اچول شوي دی(راتلونکی دې وکتل شي)



څيره ۲۱۱

(c) ketabton.com: The Digital Library

په برخه ګردیبرخوکی وښوول شو (ګردیبرخی د مخه څیړل شوي دي) چی هر کونج پوري يوه ګردبرخه يا ګردی لينده اړه لري، نو ټولی ګردی پوري ۳۶۰ درجی کونج يا $2\pi r$ اړه لري، يوه کونج α پوري بيا يوه لينده b اړه لري، کومه چی په چاپيری ئی خانهمداسی نيسي لکه په پيل کی α و ۳۶۰ درجو ته . دلته ګردیګڼ دی : .... $\pi = 3,14$ (دا مو له دې پخوا لاس ته راوړی دی)

پيلبيلګه:

کونج $\alpha = 60°$ له ګردی د ۱۰ سانتيمتره وړانګي سره يوه په لاندې ډول ګردی لينده $b = 20\pi . 60° : 360° = 10,47$ cm غوځوي يا بيلوي. د ګردی چاپيری دی : $U = 20\pi = 62,83$ cm

همغه کونج α د ۵ سانتي متره وړانګی سره ګردیلينده

$b = 10\pi .60° : 360° = 5,236$ cm

غوځوي. دا ګردی لاندې چاپيری لري: $U = 10 = 31,416$ cm .

له ګردی د وړانګي $r = 1$ cm سره ددې په څټ يا برعکس کونج ګردیلينده

$b = 2\pi . 60°: 360° = 1,047$ cm

غوځوي» د دې ګردي چاپيری فقط $U = 2\pi = 6,283$ دی .

له بيلګي څرګندیږي، چی لينده اندازه په همغه اندازه زياتيږي لکه وړانګه. له دې امله کيدی شي خپله شميرنه په يوونګردي د وړانګي ۱ سره رابنده يا محدوده کړي او روښانه کړي:

تعريف: په يوونګردي د ګرديلينډی اوږدوالي کچګڼ، چی په څنتريکونج

(c) ketabton.com: The Digital Library

باندې څيره شوي، لينده کچ بلل کيږي. لاندې شميراوړون باوري کوي:

$$x = (\alpha / 180°).\pi \quad <=> \quad \alpha = (x/\pi)\,180° = \frac{x}{\pi}\cdot 180°$$

دا چی د وړانګي څرخون په پوره کونج هم وراوړيدی شي، نو له دې امله د لينده کچ لپاره په خوښه رييلګنونه پريښوول شوي.

بيلګی :

$\alpha = 1° \Leftrightarrow x = \frac{1°}{180°}\pi = 0{,}0175$ (rad)

$\alpha = 30° \Leftrightarrow x = \frac{30°}{180°}\pi = \frac{\pi}{6} = 0{,}5236$

$\alpha = 45° \Leftrightarrow x = \frac{45°}{180°}\pi = \frac{\pi}{4} = 0{,}7854$

$\alpha = 60° \Leftrightarrow x = \frac{60°}{180°}\pi = \frac{\pi}{3} = 1{,}0472$

$\alpha = 90° \Leftrightarrow x = \frac{90°}{180°}\pi = \frac{\pi}{2} = 1{,}5708$

$\alpha = 180° \Leftrightarrow x = \frac{180°}{180°}\pi = \pi = 3{,}1416$

$\alpha = 360° \Leftrightarrow x = \frac{360°}{180°}\pi = 2\pi = 6{,}2832$

$\alpha = 720° \Leftrightarrow x = \frac{720°}{360°}\pi = 4\pi = 12{,}5664$ usw.;

$\alpha = -75° \Leftrightarrow x = \frac{-75°}{180°}\pi = \frac{-5}{12}\pi = -1{,}309$

ارکوسبلواکي Arcusfunkrionen

زيات وخت دا پوښتنه هم رامنځ ته کيږي ، چي لکه په ورکړشوو کرښځانيونو راپيداشوي کونجونه څنګه معلوميږي يا څنګه راڅرګندیږی يا بهتره څنګه ځانونه نيسی. ددې لپاره چی دا پوښتنه ځواب شي، بايد امکانات ولټول شي، چی د کونجبلواك ارزښتونو څخه څنګه بيرته کونج يا په همدې توګه د هغه تعريفډيري ته، په لينده کچ راتلی شو. دا کونجبلواك پريوديکی يا تل بيرته راګرځيدونکي بلواك دی، دا په دې مانا، چي د بلواك ارزښت په منظمه توګه د مختلفو کونجونولپاره يا .

(c) ketabton.com: The Digital Library

مختلفو واټنونو وروسته، بلواك ارزښتونه تکراريږي. د دې لپاره چې په څټکيدنه ممکن شي، نو بايد د خپل تعريف ډيرى په يوه برخه ډيري رابند يا محدود شي.

تعريف : د يوه (رابند يا محدود) تريګونومتريکي بلواك په څټ بلواکونه ارکوس بلواك Arcusfunktion بلل کيږي يا څيکلومتريکي بلواك (لاتين ارکوس: Arcus = Bogen = لينده)

دلته arc sin(x) لوستل کيږي »دx ارکوس ساين. د کونجبلواك تعريفډيرى دلته اړونده ارکوسبلواك ارزښتډيرى دى او په څټ ارګومنت يا تعريفډيرى دلته تل يو رييلګې دى.

Trigonometrische Funktion تريګونومتريکي بلواك	Arcusfunktion ارکوسبلواك
$f: x \mapsto \sin(x)$ $\mathbb{D} = \left\{x \middle\| -\frac{\pi}{2} \le x \le \frac{\pi}{2}\right\}$ $\mathbb{W} = \{y \mid -1 \le y \le 1\}$	$f^{-1}: x \mapsto \arcsin(x)$ $\mathbb{D} = \{x \mid -1 \le x \le 1\}$ $\mathbb{W} = \left\{y \middle\| -\frac{\pi}{2} \le y \le \frac{\pi}{2}\right\}$
$f: x \mapsto \cos(x)$ $\mathbb{D} = \{x \mid 0 \le x \le \pi\}$ $\mathbb{W} = \{y \mid -1 \le y \le 1\}$	$f^{-1}: x \mapsto \arccos(x)$ $\mathbb{D} = \{x \mid -1 \le x \le 1\}$ $\mathbb{W} = \{y \mid 0 \le y \le \pi\}$
$f: x \mapsto \tan(x)$ $\mathbb{D} = \left\{x \middle\| -\frac{\pi}{2} < x < \frac{\pi}{2}\right\}$ $\mathbb{W} = \{y \mid -\infty < y < \infty\}$	$f^{-1}: x \mapsto \arctan(x)$ $\mathbb{D} = \{x \mid -\infty < x < \infty\}$ $\mathbb{W} = \left\{y \middle\| -\frac{\pi}{2} < y < \frac{\pi}{2}\right\}$
$f: x \to \cot(x)$ $\mathbb{D} = \{x \mid 0 < x < \pi\}$ $\mathbb{W} = \{y \mid -\infty < x < \infty\}$	$f^{-1}: x \to \operatorname{arccot}(x)$ $\mathbb{D} = \{x \mid -\infty < x < \infty\}$ $\mathbb{W} = \{y \mid 0 < y < \pi\}$

(c) ketabton.com: The Digital Library



څېره ۲۱۲

Beispiele:

بېلګې:

1. $\arcsin(0{,}8) = 0{,}9273\,(\text{rad}) = 53{,}13°$
2. $\arccos(1) = 0\,(\text{rad}) = 0°$
3. $\arctan(-100) = -1{,}5608\,(\text{rad}) = -89{,}43°$
4. $\operatorname{arccot}(-70) = -0{,}0143\,(\text{rad}) = -0{,}82°$

۵ – دا چې کونجبلواك و ارکوسبلاك يو د بل په څټ بلواك دي نو باور لري.

$\sin(\arcsin(y)) = y; \quad \arcsin(\sin(x)) = x$
$\cos(\arccos(y)) = y; \quad \arccos(\cos(x)) = x$
$\tan(\arctan(y)) = y; \quad \arctan(\tan(x)) = x$
$\cot(\operatorname{arccot}(y)) = y; \quad \operatorname{arccot}(\cot(x)) = x$

يعنې په لاندې توګه هم

$\sin(\arcsin(0{,}4)) = \sin(23{,}58°) = 0{,}4$
$\arccos(\cos(\pi/3)) = \arccos(0{,}5) = 1{,}0472$
$\tan(\arctan(-40) = \tan(-88{,}5679°) = -39{,}9999$
$\operatorname{arccot}(\cot(60°)) = \operatorname{arccot}(0{,}5774) = 1{,}0472$

(c) ketabton.com: The Digital Library

د تریګونومتریکي بلواکو خویونه

دا چی کونجکچ په درجه کچ او هم په لینده کچ ورکول کیدی شي، کیدی شي چی یوه کونج بلواك تعریفډیری یا ∝ او یا x وي. ددې لپاره چی د یوه بلواك خوي باندې ټینګار وکړو، باید په لاندې په لینده کچ تکیه وکړو.
د لاندې خویونو لمړی ډله یواځي له تعریفمساوات (د مخه راغلی) او د پیتاګوراس له جملی لاس ته راځي (د مخه لوستل شوې) لاندې صدق کوي :

تعریف :

$$\tan(x) = \frac{\text{مخامخ کاتیت}}{\text{پرته کاتیت}} = \frac{\frac{\text{مخامخ کاتیت}}{\text{هیپوتینوزې}}}{\frac{\text{پرته کاتیت}}{\text{هیپوتینوزې}}} = \sin(x) / \cos(x)$$

ورته:

$$\cot(x) = \cos(x) / \sin(x) = \frac{\sin(x)}{\cos(x)}$$

له دې لاس ته راځي

$$\cot(x) = 1 / \tan(x) \iff \tan(x) = 1 / \cot(x)$$

برسیره پر دې لرو:

$$\sin^2 x + \cos^2 x = 1$$

د دې سره لاس ته راځي:

$$1 / \cos^2 x = 1 + \tan^2 x \; ; \quad 1 / \sin^2 x = 1 + \cot^2 x$$

(c) ketabton.com: The Digital Library

په لاندې کې gegeben ورکړی او gesucht غوښتونی یا پلټونی په مانا دي

gegeben ورکړی / gesucht غوښتونی	sin x	cos x	tan x	cot x
sin x	$\sin x$	$\pm\sqrt{1-\cos^2 x}$	$\pm\frac{\tan x}{\sqrt{1+\tan^2 x}}$	$\pm\frac{1}{\sqrt{1+\cot^2 x}}$
cos x	$\pm\sqrt{1-\sin^2 x}$	$\cos x$	$\pm\frac{1}{\sqrt{1+\tan^2 x}}$	$\pm\frac{\cot x}{\sqrt{1+\cot^2 x}}$
tan x	$\pm\frac{\sin x}{\sqrt{1-\sin^2 x}}$	$\pm\frac{\sqrt{1-\cos^2 x}}{\cos x}$	$\tan x$	$\frac{1}{\cot x}$
cot x	$\pm\frac{\sqrt{1-\sin^2 x}}{\sin x}$	$\pm\frac{\cos x}{\sqrt{1-\cos^2 x}}$	$\frac{1}{\tan x}$	$\cot x$

لکه چې د مخه مو په ګوته کړل، کیدی شي چې تریګونومتریکي بلواك د مختلفو ګونجونو لپاره روښانه شي. که لمړي ورکړ شوي بلواك ارزښتونه مقایسه شي، نو په کره توګه یا په کلکه توګه لاس ته راوړی شو

تعریف : تریګونومتریکي بلواك ټول پریودیکي یعني بیرته راګرځیدونکی دی، دا په دې مانا، چې د بلواك ارزښتونه په منظمو واټنونو کې تکراریږي. په دې د ساین بلواك او د کوساین بلواك راګرځیدنه (یا ۳۶۰ درجې) لري، کوتنجنتبلواك راګرځیدنه (یا ۱۸۰ درجې (180°)) لري.

$$\left.\begin{aligned}\sin(x \pm 2k\pi) &= \sin x\\ \tan(x \pm k\pi) &= \tan x\end{aligned}\right\}\ k \in N$$

$$\left.\begin{aligned}\cos(x \pm 2k\pi) &= \cos x\\ \cot(x \pm k\pi) &= \cot x\end{aligned}\right\}\ k \in N$$

(c) ketabton.com: The Digital Library



خیره ۲۱۴

د سایین - او کوسایین فنکشن
پرېودیائن راګرځیدنه



د تنجنت او کوتنجنت فنکشن پرېود
ښکلی :

sin 50°	= sin (50° + 360°)	= sin (50° − 720°)	= 0,76604	
cos − 30°	= cos (− 30° − 360°)	= cos (− 30° + 1080°)	= 0,86603	
tan 2,5	= tan (2,5 − π)	= tan (2,5 + 5π)	= − 0,74702	
cot 10	= cot (10 + π)	= cot (10 − π)	= 1,54235	
sin 35°	= sin (180° − 35°)	= − sin (180° + 35°)	= − sin (360° − 35°)	= 0,573576
cos 35°	= − cos 145°	= − cos 215°	= cos 325°	= 0,81952
tan 0,6109	= − tan 2,5307	= tan 3,7525	= − tan 5,6723	= 0,700208
cot 0,6109	= − cot 2,5307	= cot 3,7525	= − cot 5,6723	= 1,428042

که د فنکشن ګراف ته په ځیر شو نو په دې برسیره په ټینګه روښانیږي :

(c) ketabton.com: The Digital Library

x	$\pi - x$	$\pi + x$	$2\pi - x$	
$\sin x =$	$\sin(\pi - x) =$	$-\sin(\pi + x) =$	$-\sin(2\pi - x)$	(Abb. 179)
$\cos x =$	$-\cos(\pi - x) =$	$-\cos(\pi + x) =$	$\cos(2\pi - x)$	(Abb. 179)
$\tan x =$	$-\tan(\pi - x) =$	$\tan(\pi + x) =$	$-\tan(2\pi - x)$	(Abb. 180)
$\cot x =$	$-\cot(\pi - x) =$	$\cot(\pi + x) =$	$-\cot(2\pi - x)$	(Abb. 180)

بیلګې:

	α	$180° - \alpha$	$180° + \alpha$	$360° - \alpha$
	35°	145°	215°	325°
sin	0,573576	0,573576	− 0,573576	− 0,573576
cos	0,819152	− 0,819152	− 0,819152	0,819152
tan	0,700208	− 0,700208	0,700208	− 0,700208
cot	1,428148	− 1,428148	1,428148	− 1,428148

که څه هم نن د کونجلواکو شمیرلو لپاره، یواځی د جبشمیرې یا کمپیوتر څخه کار اخستل کیږي ، هدفمند بولو، چې یو څو زیات د استعمال وړ ارزښتونه په لاندې ورکړو.

x	0	$\frac{\pi}{6}$	$\frac{\pi}{4}$	$\frac{\pi}{3}$	$\frac{\pi}{2}$	$\frac{2}{3}\pi$	$\frac{3}{4}\pi$	$\frac{5}{6}\pi$	π	$\frac{3}{2}\pi$	2π
α	0°	30°	45°	60°	90°	120°	135°	150°	180°	270°	360°
sin x bzw. sin α	0	$\frac{1}{2}$	$\frac{1}{2}\sqrt{2}$	$\frac{1}{2}\sqrt{3}$	1	$\frac{1}{2}\sqrt{3}$	$\frac{1}{2}\sqrt{2}$	$\frac{1}{2}$	0	− 1	0
cos x bzw. cos α	1	$\frac{1}{2}\sqrt{3}$	$\frac{1}{2}\sqrt{2}$	$\frac{1}{2}$	0	$-\frac{1}{2}$	$-\frac{1}{2}\sqrt{2}$	$-\frac{1}{2}\sqrt{3}$	− 1	0	1
tan x bzw. tan α	0	$\frac{1}{3}\sqrt{3}$	1	$\sqrt{3}$	–	$-\sqrt{3}$	− 1	$-\frac{1}{3}\sqrt{3}$	0	–	0
cot x bzw. cot α	–	$\sqrt{3}$	1	$\frac{1}{3}\sqrt{3}$	0	$-\frac{1}{3}\sqrt{3}$	− 1	$-\sqrt{3}$	–	0	–

د دغه جدول د هندسې لارې له مخې ترلاسه کړی یا ځکوی .

(c) ketabton.com: The Digital Library

له دې جدول څخه کیدی شي په خیال کی یا ګوماني لاس ته راوړی شو

$\sin x = \cos\left(\frac{\pi}{2} - x\right)$ $\quad \cos x = \sin\left(\frac{\pi}{2} - x\right)$

$\tan x = \cot\left(\frac{\pi}{2} - x\right)$ $\quad \cot x = \tan\left(\frac{\pi}{2} - x\right)$

دا ګومان کیدی شي په ولاړکونجیز دریګوډي کي د تعریف په مرسته په ساده توګه وښوول شي. :

$\sin = a / c$ او $\cos ß = a / c$

د $ß = 90° -$ له امله لاس ته راځي :

$\sin = \cos(90° -)$

په ورته توګه نور ې غوښتني هم لاس ته راتلی شي.

دا له ځیرو ځخه هم لاس ته راوړل کیدی شي، ځکه د ساین او کوساین بلواکو یا په همدې ډول د تانجنت او کوتنجنت بلواکو ګرافونه د $x = \frac{\pi}{2}$ کربنې ته یو بل سره محورسیومتري ځغلي :

له ځیرو او بیلګو څخه په دې برسیره لاس ته راځي:

تعریف: د کوساین بلواك جفت دی ، لرو:

$$\cos(x) = \cos(-x)$$

ساین – ، تنجنت – او کوتنجنت بلواك ناجفت دي» د دوي لپاره باور لري:

$$\sin(x) = -\sin(-x),\ \tan(x) = -\tan(-x)\ ;\ \cot(x) = -\cot(-x)$$

یادونه : په دې نلواکو کي کیدی شي چی x له نوکانو دباندې هم وي:

(c) ketabton.com: The Digital Library

بیلګی:

$\sin 60° = -\sin(-60°) = 0{,}86603$

$\cos 0{,}75 = \cos(-0{,}75) = -0{,}70711$

$\tan 150° = -\tan(-150°) = -0{,}57735$

$\cot 1{,}3 = -\cot(-1{,}3) = o{,}27762$

د زیاتون قضیي یا تیورمونه

دا چي کونجبلواك لایني نه دي(د فنکشنګراف کربنه نه ده،بلکه کږه ده) ، نو ډبل تعریفډیرې پورې ساده ډبل بلواك ارزښت اړه نه لري.

لکه

$\sin 30° = 0{,}5 \quad \sin 90° = 1 \quad \sin 180° = 0$

د داسی په نامه زیاتونمسئلی په مرسته ممکن کیږي، چی د بلواك ارزښت د کونج په دوه برابرولو یا په همدې ډول د دوه کونجونو پو په بل زیاتولو د یوګونو کونجونو لپاره ارزښتونه رابي کړی شو.

بیلګی :

1 . $\sin(x + y) = \sin x \cdot \cos y + \cos x \cdot \sin y$

1' . $\sin(x - y) = \sin x \cdot \cos y - \cos x \cdot \sin y$

2 . $\cos(x + y) \cos x \cdot \cos y - \sin x \cdot \sin y$

2 '. $\operatorname{cis}(x - y) = \cos x \cdot \cos y + \sin x \cdot \sin y$

3 . $\sin 2x = 2.\sin x \cdot \cos x$

4 . $\cos 2x = \cos^2 x - \sin^2 x$

(c) ketabton.com: The Digital Library

5. $\sin x + \sin y = 2 \sin \frac{x+y}{2} \cos \frac{x-y}{2}$

6. $\cos x + \cos y = 2 \cos \frac{x+y}{2} \cos \frac{x-y}{2}$

7. $\sin\left(\frac{x}{2}\right) = \sqrt{0{,}5(1 - \cos x)}$

8. $\cos\left(\frac{x}{2}\right) = \sqrt{0{,}5(1 + \cos x)}$

9. $\tan(x+y) = \frac{\tan x + \tan y}{1 - \tan x \cdot \tan y}$ mit $\tan x \cdot \tan y \neq 1$

9′. $\tan(x-y) = \frac{\tan x - \tan y}{1 + \tan x \cdot \tan y}$ mit $\tan x \cdot \tan y \neq 1$

10. $\cot(x+y) = \frac{\cot x \cdot \cot y - 1}{\cot x + \cot y}$ mit $\cot x \neq -\cot y$

10′. $\cot(x-y) = \frac{\cot x \cdot \cot y + 1}{\cot x - \cot y}$ mit $\cot x \neq \cot y$



شیره ۲۱۶

1. und **2.**:

$|OA| = 1$

$|AC| = \sin y; \quad |OC| = \cos y$

$|AB| = \sin(x+y); \quad |OB| = \cos(x+y)$

$\frac{|EC|}{|AC|} = \sin x \Rightarrow |EC| = |AC| \cdot \sin x = \sin x \cdot \sin y$

$\frac{|OD|}{|OC|} = \cos x \Rightarrow |OD| = |OC| \cdot \cos x = \cos x \cdot \cos y$

(c) ketabton.com: The Digital Library

$$\frac{|EA|}{|AC|} = \cos x \Rightarrow |EA| = |AC| \cdot \cos x = \cos x \cdot \cos y$$

$$\frac{|DC|}{|OC|} = \sin x \Rightarrow |DC| = |OC| \cdot \sin x = \sin x \cdot \sin y$$

$$|AB| = |AE| + |EB| = |AE| + |CD|$$
$$|OB| = |OD| - |BD| = |OD| - |EC|$$

$$\sin(x + y) = \cos x \cdot \cos y + \sin x \cdot \sin y$$
$$\cos(x + y) = \cos x \cdot \cos y - \sin x \cdot \sin y$$

1′. 2′.:

3. 4.: x = y.

5.: Setze $z + t = x;\ z - t = y \Rightarrow z = \frac{x + y}{2};\ t = \frac{x - y}{2}$

t $\sin x = \sin(z + t) = \sin z \cdot \cos t + \cos z \cdot \sin t$

$$= \sin\frac{x + y}{2}\cos\frac{x - y}{2} + \cos\frac{x + y}{2}\sin\frac{x - y}{2}$$

$$\sin y = \sin(z - t) = \sin\frac{x + y}{2}\cos\frac{x - y}{2} - \cos\frac{x + y}{2}\sin\frac{x - y}{2}$$

$$\Rightarrow \sin x + \sin y = 2\sin\frac{x + y}{2}\cos\frac{x - y}{2}$$

7.: x = y = z/2

$$\Rightarrow \cos(x + y) = \cos z = \cos 2 \cdot \frac{z}{2} = \cos^2\frac{z}{2} - \sin^2\frac{z}{2}$$

$$\Rightarrow \sin^2\frac{z}{2} = \cos^2\frac{z}{2} - \cos z = 1 - \sin^2\frac{z}{2} - \cos z \qquad (*)$$

$$\Rightarrow 2\sin^2\frac{z}{2} = 1 - \cos z \Rightarrow \sin^2\frac{z}{2} = \frac{1}{2}(1 - \cos z)$$

8.: $(*)\ \sin^2\frac{z}{2}$ durch $1 - \cos^2\frac{z}{2}$.

(c) ketabton.com: The Digital Library

بلواك يا فنكشن $y = a \cdot \sin(bx+c) + d$

لكه چې په پيل کې مو وويل په طبيعت او تخنيك کې ډيرې پيښې شته دې چې تل بيرته راګرځي يا لنډ: راګرځي، يعني پريوديکي دي. د دې د تشريح لپاره په خپل سوچه يا خالصه بڼه تل د ساين بلواك بسيا نه کوي.

دا زيات علتونه لري : لمړی د ساينبلواك د ۱- او ۱ ترمنځ ارزښت نيسي، له بلي لور داواقعي د کونج په واك کې نه دي بلکه د وخت په واك کي دي د يوې راګرځيدنې سره، چې دا په ساده توګه د 2 په ډول نه شي رانيولکيدی. له دې امله د ساين بلواك د دې کارونو د روښانوولو لپاره بايد موډيفيخير شي يا يې بڼه واوړي. دا بڼه اوړون او د هغې تاثير په لاندې ليدنه کې راټول شويدي، ګراف يې ورزياتې څيرونې لپاره دی. په ورته ډول د نورو کونجبلواکو لپاره باور لري په عمل کي مګر يواځي د ساينبلواك (په همدې توګه د هغې مخامخ د کوساين بلواك چې په $\pi/2$ سره راکښل شوی وي) د مانا ډك دي. (لوستل: له ټيټ لورته)

بيلګې	دکارونې ساحه	تاثير	بلواك
څيره ۲۱۷	ټولې تلبيرته راګرځيدونې تعامولونه		$y = \sin(x)$
څيره ۲۱۸	د يوه مساوي او بدل شپاږلونګ يو په بل مړ لوبل	د ۷-لور يا ښکته راکښنه	$y = \sin(x) + d$

(c) ketabton.com: The Digital Library

څېره ۲۱۹	په بدل بوینښا جریان کې د بریښنا او شیانو تنګ تمشي دوښانونه	د فاز تغیر یا ځای بدلون	y = sin(x+c)
څېره ۲۲۰	دیوه پنډل هوښدنه	دامپلیتود ځای بدلون فاکتور 1 د 180° فاز ځای بدلون دی	y = a . sin(x)
څېره ۲۲۱	دیو بسیطه ټوزي څېړنه په پام وضعت دادوینه زه دهغې برخې لګزه له لګه په دسوزیدګ الوپه اوازولوکی	دپریود تغیر یا بدلون بسرعت b>1 پکراراکیدل 0<b<1 پشا گرځیدنه b <0 کم ځنډ دی	y = sin(bx)
څېره ۲۲۲	کمپلکس پریود جریان یا عمل	عمومی حالت	y = a . sin(bx+c)+d

تمرینونه

۱ – د لاندې ورکړې سره څیره بله کړی

4°6' = 4,1° ; 10° , 5' = 10°30

a) 6,75° = b = 120,48° = c) -75,65° =

d) 52°16' = e) 97°13' = f) 44°44' 44" =

۲ – په درجه کچ ي ولیکی

a) x = 11/3 , b) x = -Π /4 , c) x (2 /3)Π

d) x = 4 e) x = -3 f) x = 4,7

۳ – په لینده کچ یی ولیکي

a) 15° b) -60° c) 540° d) 20°15' e) 15,75°

(c) ketabton.com: The Digital Library



څيره ۲۱۷



څيره ۲۲۰



څيره ۲۱۸



څيره ۲۲۱



څيره ۲۱۹



څيره ۲۲۲

د دې بلواك ګراف د ساين کرښې y = sin x څخه لکه چې ګورو لاس ته راځي:

۱ – د ارزښت دوه ځله کيدل

۲ – د نيمې راګرځيد اوږدوالی باندې پرسيدنه

۳ – په يوه يوون د ښي لور ته راکښنه

۴ – په 1 / 2 پورته لورته 100% راکښنه

(c) ketabton.com: The Digital Library

۴ – وټاکی

a) sin20° b) sin(-30°) c) sin 172° d) din1°4'

e) cos 35° f) cos 380° g) cos(-27°) h) cos47,9°

i) tan 11° k) tan (-15°) l) tan 33,33° m) tan 13°13'

n) cot 870° o) cot (-11°) p) cot 14°14'

q) cot (-2°2')

r) sin α =0,8 s) cos α = 0,9 t) tan α = 2,5

u) cot α =-1 v) sin φ = 0,3 w) cos φ = -0,13

x) tan φ = -4 y) cot φ = 0,3 z) arcsin(x) = π /2

۵ – په یوه ولاړکونجیز دریګوډي کی لرو $\gamma = 90°$ او په دې برسیره :

a) a = 7 cm; b = 6cm

b) a = 16cm; = 66°45'

c) c = 5cm; a = 3cm



خیره ۲۲۳

پاتی ټوټی وشمیری

۶ – په مساوي پښیز دریګوډي کي (a = پښه ده) دی

a) a= 10cm ; α =80°40'

b) a= 12 cm ; h = 8cm

c) ß = 40°; a = 7cm

پاتی ټوټي وشمیري

۷ – د یوه پخکونجیز (α < 90°)

دریګوډي لپاره ساین وشمیری

۸ الف) کوساین د یوه پخ کونجیز

دریګوډي لپاره وشمیری (φ > 90°)

(c) ketabton.com: The Digital Library

ب) په یوه ولاړکونجیز دریګوډي کوم فرمول لاس ته راځي؟

۹ – په یوه مکعب کی د یوه هوا نیمي او بنسټهواري ترمنځ کونج څومره لوي دی ؟
څیره .د دواړو هوا یا فضا یا بدن نیمیو ترمنځ کونج څومره لوي دی ؟

۱۰ – د دوه ګردیو وړانګی

$r_1 = 5$ cm , $r_2 = 4$ cm

دي او همداسی د منځټکو واټن $|M_1M_2| = 8$cm ورکړ شوی دی.
دد دواړو ګردیو د تماس
مماسونو غوڅکونجی وټاکی
او د کډې غوڅونی اوږدوالی .

۱۱ – په یوه دریګوډي کی د یوه کونجنیمی مخامخ اړخ په داسی ځان نیونه یا تناسب غوڅوي لکه په دې پرتي خواوې. دا غوښتنه د ساین جملی په مرسته حل (اوبی) کړی(څیره۲۲۴).



څیره ۲۲۴

۱۲ – که یوه بار ځای ته،
چې ۱،۵۰ مترہ جګ دی،
یوه زینه ورجګه شي
میلانکونج ≺ دې زیات ترزیات 33° وي، زینه دې څومره لویه وي؟

۱۳ – الف)د یوې پورته ختلی کوڅي جګوالي توپیردې څومره وي، که دا کوڅه ۱۶۰۰ مترہ اوږده او 12% جګه وي؟

ب) د ۱۵۴۰ پرتی لارې وهلو وروسته د جګوالي توپیر څومره دی ؟

پ) د یوه زوړندې پټیلار، چې ۱۷۰۰ مترہ اوږده ده، په سلو کی څومره لوي دی ، که دا د جګوالی توپیر ۵۰۰ مترہ ولري؟

(c) ketabton.com: The Digital Library

۱۴ – یو د اوبو بیلر (کتله = ۱۰۰ کیلوګرامه) په یوه دړه پورته خیژول کیږي، چې میلانکونج $\measuredangle = 25°$ لري. د وزنزور په زوړندزور تختی سره غبرګ او نورمال یعنی ولاړ زور (د فشارزور) ولاړ تجزیه یا ټوټه کیږي، دواړه زوره څومره لوي دی ؟ (۱ کیلو ګرام = ۸۱ ، ۹ نیوټن $1\ kg = 9{,}81N$).

۱۵ – یو تلفونستن په څلور رسیو، چې هره یوه یې ۵۳ متره اوږده ده، درول کیږي. درسیو میلانکونج $60°$ دی په پښه باندې په کوم جګوالي باید رسی وړلی شي ؟

۱۶ – د یوې ۵۳ متره جګې ونې سیوری ۵ ، ۱۲ متره اوږد دی. په ځمکه لمروړانګې په کوم جګوالی یوبل سره مخمامخ کیږي.؟

۱۷ – د یوه ۵ متره جګ کتونټکي (لکه د یوه کور، په دوم منځل کی کړکی) ، څخه د یوه برج څوکه لیدل کیږي چې جګیدونکوج یې $\measuredangle = 18{,}5°$ او پښیټکی یې $\beta = 8°$ لوید کونج ، برج څومره جګ دی ؟ د لیدټکي څخه یې پروت لریوالی څومره دی ؟

۱۸ – الف) د پیزا (Pisa) کور برج ۴۷ متره جګ دی، او څوکه یې د پښی ټکي څخه ۴،۵۰ متره ور اوړي. دا برج څومره مایل دی ؟

ب) د یوه جومات برج چې ۱۵۰ متره جګ وي، لیدونکی د کوم کونج لاندې دا برج کتلی شي، که دا برج په ځمکي ټکي (یعنی د سترګي جګوالی د برج بنسټټکي سره برابر وي)، څخه وکتل شي، چې د برج له بنسټ څخه ۵۰۰ متره واټن ولري؟

پ) د ۵، ۱ کیلو متره لریوالی څخه یو بل برج د کوم کونج لاندې لیدل کیږي

– که جګوالی یې ۱۶۰ متره وي؟

– که جګوالی یې ۱۳۷ متره وي ؟

ت) د پراته کوم اوږدوالی لاندې د بنسټ څخه د ۱۲ درجی کونج لاندې

– د بل برج څوکه ښکارېږي چې جګوالی یې ۱۴۳ متره وي ؟

(c) ketabton.com: The Digital Library

–د پاریس د ایفل برج ښکاریږي چی جګوالی یي ۳۰۰ متره دی ؟

۱۹ – د ښیپپس اهرام(CHeopspyramide) ۱۳۷ متره جګوالی لري او د بنسټ د یوه اړخ اوږدوالی یی ۲۳۰ متره دی چی بنسټ یی مربع شکل لري

الف) د اړخهواړ میلانکونج څومره دی ؟

ب) د څنګهواړ دریواړه دننی کونجونه څومره لوي دي؟

۲۰ – یو ژوری یا قبر –۸ ، ۱ متره ژور دی، بنسټسور یی ۵ ، ۲ متره دی، د پورته لور ته وازکونج ی دواړو لورو ته ۶۰ درجی دی

الف) دا کبر پخپل وازوالی یا سر کی څومره پراخ دی؟

ب) که ۱۰ متره اوږد وي، نو بیا دا څومره اوبه ځایکوي ، که جګوالی یی ۵۰ ، ۱ متره وي؟

۲۱ – یو ډنډ په سر کی ۶ متره سرور دی او ۵ ، ۴ متره جګوالی لري د بحیرې لور ته 14° میلان لري، د دننه لور ته 28° میلان لري. د ډنډ بنسټ څومره سور لري؟ د هغی د نیمی هواره څومره ده؟

۲۲ – د ریفلډنډ Riffelsee څخه یو ښه لید د ماترهورن (ماترنښکر یا د ماترن د غره څوکه Matterhorn) دواړه په زیرمات ، سویس Zermatt / Schweiz کی دی) اچول کیږي که دا د یوه لیدټکي څخه چی ۱۰۰ متره جګ دی د ډنډ په لور ښکته وکتل شي، نو د غره د څوکي هندارونه د 12° پریوتکونج لاندې لیدل کیږي. د غره څوکه د یوپورته کونج 11° لاندې لیدل کیږي. د ریفلډنډ باندې د ماترنښکر څوکه څومره جګه پروته ده؟

څیره

(c) ketabton.com: The Digital Library



خيره ۲۲۵



خيره ۲۲۶

۲۳ – الف) يوه د کشولو کړی، چې په دوه دکښولو چيترو باندې راتاو ده، څومره اوږده ده، که لاندې اندازې ولري $r = 22\ cm$, $R = 35\ cm$, $|M_1M_2| = 2m$?

ب) دا کړی به څومره اوږدې وي که د اټيران په څير له چيتروګانو يا ټيکليو څخه ځيدلی وي ؟

(c) ketabton.com: The Digital Library

۲۴ الف) د ونی په سټه یو کایل)موږی) په څټك د D زور سره وهل کیږي. د فشار هغه زورونه D څومره لوي دي، کوم چی د سټې درځونه ، که د کایل یا تبرګي کونج $\alpha = 6°$ وي. (حیره ۱۹۴)؟

ب) په کومکایلکونج یا تبرګیکونج لرو: $|F|=|D|$ ؟



څیره ۲۲۷

۲۵ – د یوه الوتماشین څخه ځمکه د یوه α کونج لاندې لیدل کیږي (څیره) دا الوتماشین څومره جګ الوزي ؟ (د ځمکی وړانګه : ۶۳۷۰ کیلومتره)



څیره ۲۲۸

۲۶ – یو ګادی د $v_{\alpha} = 120km/h$ سرعت سره روان دی، نو د باران څاڅکی په پټلی د تلنلور باندې په $\alpha = 115°$ کونج

(c) ketabton.com: The Digital Library



خيره ۲۲۹

د چيترو (مطلب د ګاډي د اوسپنی تېر يا ګاډيل دی) مخامخ ځغلي. له دې ورکړو څخه د باران د څاڅکو د لويدلو سرعت v_g وټاکی ؟

۲۷ – که د لمروړانګه په دوه مختلفو طبقو ولويږي، نو خپلی لور ته تغير يا بدلون ورکوي. د سنيليوس Snellius د ماتقاعدې له مخی کيدی شي چی د ماتيدو قانون وشميرل شي. دا قانون وايي، چی پروتوړانګه ، ماتوړانګه او ولاړکربنه يا عمود په بيليدونکی هواړې په يوه هواره پراته دي او برسيره پر دې لاندې اړيکي باور لري يا صدق کوي:

$$\sin \alpha \; / \; \sin \beta = n$$

که د رڼاوړانګه په يوه بنيښه (اوبو) پريوزي، نو $n = 1,5\ (1,33)$ دی وښايي، چی ماتکونجونه څومره لوي دي، کوم چی په لاندې پروتکونجونو اړه لري:

؟ $10,5°, 15,8°, 27,3°, 41,2°, 67,6°, 72,4°, 81,9°$

۲۸ – په ۱۸ ا–مه ميلادي پيړۍ کی د سپوږمی لريوالی تريګومتريکي وټاکل شو. په برلين کی (جغرافيوي اوږدوالی $\varphi_1 = 52,52°$) او لکه د بنو هيلو په کونج کی ($\varphi_2 = -33,93°$)، کوم چی په همغه اوږدګراد پراته دي، د سپوږمی سره په همغه وخت کی تړل کيږي. له دې لاس ته راغلل:

$\delta_1 = 32,08°$ او $\delta_2 = 55,72°$.

وشميری |BK| , ß , |KM| او له دې څخه d_{EM} .

(c) ketabton.com: The Digital Library



خيره ۲۳۰

۲۹ – لړئيدنی Schwingungen تل د وخت په اړه شميرل کيږي يعني د وخت t تر واک لاندې دي. دا د بلواک $y = a . (\sin (2 \pi /T)) .t + k)$ له لارې ورکړ شوي. دلته $(2 \pi / T) t = x$ هغه کونج دی ، کوم چې په T وخت کې وهلکيږي. $1 / T = f$ د يوه څرخون پريود يا راګرځيدنی وخت په ګوته کوي او د لړئيدنی دوام بلل کيږي» f فرکونځ frequenz بلل کيږي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

۷- مربع مساوات (څلورۍ برابرونونه)

۷ . ۱ - سوچه څلورۍبرابرون

مساوات $x^2=25$ حل کړۍ

د ازماپښت سره حل $x1=5$ يا $x2=-5$ لاس ته راځي

ځکه چې $(x1)^2 = 5^2 = 25$ يا $(x2)^2=(-5)^2 = 25$

مساوات د ورته بڼه بدلون له لارې لاس ته راوړل کيږي.

$x^2=25$ په دواړو لورو ريښه ونيسۍ

$$\Leftrightarrow \sqrt{x^2} = \sqrt{25}$$

$\Leftrightarrow |x| = 5$ ارزښت حل کړۍ

(c) ketabton.com: The Digital Library

(Fall حالت ته وايي)

$$\text{Fall 1: } x \geq 0 \Rightarrow |x| = x = 5 \Rightarrow \underline{\underline{x_1 = 5}}$$

$$\text{Fall 2: } x < 0 \Rightarrow |x| = -x = 5 \Leftrightarrow x = -5 \Rightarrow \underline{\underline{x_2 = -5}}$$

ارزښت يا مطلقه ارزښت ته روښانه ونه

يو سړی ,€ 120 ګڼي، مور داسي هم وايو چې يو سړی ,€ 120 د پيسو ارزښت ګڼي.

يو سړی د ,€ 120 جزا پانه اخلي، مور وايو چې دی بايد د ,€ 120 پيسو ارزښت تاديه کړي يا ورکړي.

د اقتصادي تخنيک له مخې ګڼل د مثبت او جزا د منفي په معنا دي.

نو : ګڼل € 120+, د جزا پانه € 120-,

په دواړو حالتونو کې دا € 120 دي.

د يوه حقيقي ګڼ يا عدد ارزښت لرو، که دا مخنخبنه+ بدله شوه.

بيلګې:

$|4| = 4$ $|5{,}12| = 5{,}12$ $\left|\sqrt{3}\right| = \sqrt{3}$ $|\pi| = \pi$

$|-4| = 4$ $|-5{,}12| = 5{,}12$ $\left|-\sqrt{3}\right| = \sqrt{3}$ $|-\pi| = \pi$

دا دومه ساده هم نه دی، که مور د يوې اووښتوني x ارزښت غواړو وټاکو| x | = x تل د ټولو حقيقي ګڼونو يا اعدادو لپاره باور نه لري.

بيلګه:

(c) ketabton.com: The Digital Library

ګومان $x = |x|$ فقط هلته ټیک دی، چې $x \geq 0$ وي.

د $x<0$ لپاره ناټیک دی..

موږ دا رزښت ټاکلو کې باید دوه حالتونه سره توپیر کړو:

لومړی حالت که $x \geq 0$ وي $|x| = x$

دویم حالت که $x<0$ وي $|x| = -x$

بیلګه:

$x = 5$ دا چې $x > 0$ دی باورلري $|x| = x$ ځکه چې $|5| = 5$ (لومړی حالت)

$x = -5$ داچې $x < 0$ دی باور لري $|x| = -x$ ځکه چې $|-5| = 5$ (دیم حالت)

د یوه حقیقي عدد ارزښت تل مثبت دی.

ارزښت د یوه عدد لویوالی ورکوي، بې له دې چې مخ نخښه په پام کې ونیل شي.

د حل بدیل I

(c) ketabton.com: The Digital Library

د بني $ax^2 = b$ يا $ax^2 = + c = 0$ برابرونونه سوچه مربعيز بلل كيږي..

دا د مناسب بڼه بدلون وروسته د ريښه نيوني له لارې حل كيږي.

په لاندې كې fall د حالت په معنا دی.

$$\begin{aligned} & 2x^2 - 8 = 0 && | +8 \\ \Leftrightarrow\ & 2x^2 = 8 && | :2 \\ \Leftrightarrow\ & x^2 = 4 && | \sqrt{\ } \\ \Leftrightarrow\ & \sqrt{x^2} = \sqrt{4} \\ \Leftrightarrow\ & |x| = 2 \end{aligned}$$

لومړی حالت	$x \geq 0 : \lvert x\rvert = x = 2 \Rightarrow \underline{\underline{x_1 = 2}}$
دويم حالت	$x < 0 : \lvert x\rvert = -x = 2 \Leftrightarrow x = -2 \Rightarrow \underline{\underline{x_2 = -2}}$

بيلګه:

$$\begin{aligned} & \frac{1}{2}x^2 = 9 && | \cdot 2 \\ \Leftrightarrow\ & x^2 = 18 && | \sqrt{\ } \\ \Leftrightarrow\ & \sqrt{x^2} = \sqrt{18} && | \\ \Leftrightarrow\ & |x| = \sqrt{18} \end{aligned}$$

لومړی حالت:	$x \geq 0 : \lvert x\rvert = x = \sqrt{18} \Rightarrow \underline{\underline{x_1 = \sqrt{18}}}$
دويم حالت:	$x < 0 : \lvert x\rvert = -x = \sqrt{18} \Leftrightarrow x = -\sqrt{18} \Rightarrow \underline{x_2 = -\sqrt{18}}$

د حل بديلII

د مساوات $x^2+2x=0$ حل

(c) ketabton.com: The Digital Library

د ازمیلو له لاري لرو : x1=1یا x2=-2

ځکه چې $x_1^2 + 2x_1 = 0 \Leftrightarrow 0^2 + 2 \cdot 0 = 0$

یا $x_2^2 + 2x_2 = 0 \Leftrightarrow (-2)^2 + 2 \cdot (-2) = 4 - 4 = 0$

د نوکانو بندولو له لاري هم همدا نتیجه لاس ته راځي:

$$x^2 + 2x = 0 \Leftrightarrow \underbrace{x(x+2)}_{\text{Produkt}} = 0$$

Produkt ضرب

دوه امکانات (شونتیاوې) شتون لري، چې دا ضرب صفر شي:

لومړی حالت : $x = 0 \Rightarrow 0 \cdot (0+2) = 0 \cdot 2 = 0 \Rightarrow x_1 = 0$

دویم حالت: $(x+2) = 0 \Rightarrow x \cdot 0 = 0$ د په دې معنا چې

$$(x+2) = 0 \Leftrightarrow x = -2 \Rightarrow \underline{\underline{x_2 = -2}}$$

د صفر ضرب جمله:

یو ضرب صفر دی، که لږ ت رلږه د هغه یو ضریب صفر وي.

پام :

د بڼې یا مساوات سیستم تل کیدی شي د اووښتوني یا متحولې له نوکانو راوستنې له لاري حل شي.

بیلګه:

(c) ketabton.com: The Digital Library

Probeازماپښت mitد...سره. ausklammern د نوکانو وباسئ،
Nullproduktصفر ضرب

$$
\begin{array}{lllll}
 & 3x^2 + 2x & = 0 & | \text{ x ausklammern} \\
\Leftrightarrow & x(3x + 2) & = 0 & | \text{Nullprodukt} \\
\text{Fall 1:} & x & = 0 & \Rightarrow \underline{\underline{x_1 = 0}} \\
\text{Fall 2:} & 3x + 2 & = 0 & | -2 \\
\Leftrightarrow & 3x & = -2 & | : 3 \\
\Leftrightarrow & x & = -\frac{2}{3} & \Rightarrow \underline{\underline{x_2 = -\frac{2}{3}}}
\end{array}
$$

بیلګه:

Probeازماپښت mitد سره. ausklammern د نوکانو وباسئ،
Nullproduktصفر ضرب

$$
\begin{array}{lllll}
 & \frac{2}{3}x^2 & = \frac{3}{4}x & | -\frac{3}{4}x \\
\Leftrightarrow & \frac{2}{3}x^2 - \frac{3}{4}x & = 0 & | \text{ x ausklammern} \\
\Leftrightarrow & x\left(\frac{2}{3}x - \frac{3}{4}\right) & = 0 & | \text{Nullprodukt} \\
\text{Fall 1:} & x & = 0 & \Rightarrow \underline{\underline{x_1 = 0}} \\
\text{Fall 2:} & \frac{2}{3}x - \frac{3}{4} & = 0 & | +\frac{3}{4} \\
\Leftrightarrow & \frac{2}{3}x & = \frac{3}{4} & | \cdot \frac{3}{2} \\
\Leftrightarrow & x & = \frac{9}{8} & \Rightarrow \underline{\underline{x_2 = \frac{9}{8}}}
\end{array}
$$

Probe: mit $x = \frac{9}{8}$

$$
\begin{array}{lll}
\frac{2}{3}x^2 & = & \frac{3}{4}x \\
\Leftrightarrow \quad \frac{2}{3}\cdot\left(\frac{9}{8}\right)^2 & = & \frac{3}{4}\cdot\frac{9}{8} \\
\Leftrightarrow \quad \frac{2}{3}\cdot\frac{9\cdot 9}{8\cdot 8} & = & \frac{3\cdot 9}{4\cdot 8} \\
\Leftrightarrow \quad \frac{27}{32} & = & \frac{27}{32}
\end{array}
$$

۷ . ۲ ــ د مربع مساوات عمومي بڼه

(c) ketabton.com: The Digital Library

$$ax^2 + bx + c = 0$$

بیلګه:

$$2x^2 - 3x + 4 = 0; \quad -x^2 + x - 5 = 0; \quad \frac{3}{4}x^2 + \frac{1}{2}x - 8 = 0$$

د عملي شمیرنې لپاره زموږ مشوره داده، چې دا انځورونه ساده شي.

د دې لپاره د برابرون دواړه خواوې په a وېشو او په دې توګه په لاندې ډول د مربع مساوات نورمال بڼه لاس ته راوړو

$$\frac{ax^2}{a} + \frac{bx}{a} + \frac{c}{a} = \frac{0}{a} \quad \Leftrightarrow \quad x^2 + \underbrace{\frac{b}{a}}_{p}x + \underbrace{\frac{c}{a}}_{q} = 0 \quad \Leftrightarrow \quad x^2 + px + q = 0$$

۷ . ۳ - د مربع تکمیلوني په مرسته د حل تلنلار

بیلګه:

په نورمال بڼه راوړئ: $2x^2 - 16x - 40 = 0 \quad | : 2$

مربع تکمیلئ

$$\Leftrightarrow \quad x^2 - 8x - 20 = 0 \quad |$$

$$\Leftrightarrow \quad \underbrace{x^2 - 8x + 4^2}_{\text{2. binomische Formel}} - 4^2 - 20 = 0 \quad | + 4^2 + 20$$

$$\Leftrightarrow \quad (x-4)^2 = 36 \quad | \sqrt{\ }$$

$$\Leftrightarrow \quad |x-4| = 6$$

$$\text{Fall 1:} \quad (x-4) \geq 0 \Rightarrow x - 4 = 6 \quad | + 4$$

$$\Leftrightarrow \quad x = 10 \Rightarrow \underline{\underline{x_1 = 10}}$$

$$\text{Fall 2:} \quad (x-4) < 0 \Rightarrow -(x-4) = 6 \quad | \cdot (-1)$$

$$\Leftrightarrow \quad x - 4 = -6 \quad | + 4$$

$$\Leftrightarrow \quad x = -2 \Rightarrow \underline{\underline{x_2 = -2}}$$

(c) ketabton.com: The Digital Library

په پورته کي Fall د حالت په معنا دی.

هر مربع مساوات د مربع تکميلوني له لارې يتا متود په مرسته حل کيدی شي.

د مربع تکميلوني ته يادونه:

دx ضريبونه نيميږي، مربع کيږي، جمعه کيږي او بېرته منفي کيږي.

د لومړي يا دويم بينوم فرمول له لارې بيا مربع جوړيږي.

۴. ۷ - د - p - q فرمول

که مربع مساوات په نورمال بڼه دا د مربع تکميليدني تلنلار وکارول شي، نو د - p - q - فرمول ته راځي، د کوم سره چې مربع مساوات نور هم ساده حل کيږي.

Oder يا $x^2+px+q=0$

$\Leftrightarrow x^2+px \quad +q=0$

(c) ketabton.com: The Digital Library

$$\Leftrightarrow \underbrace{x^2 + px + \left(\frac{p}{2}\right)^2}_{\text{1. binomische Formel}} - \left(\frac{p}{2}\right)^2 + q = 0$$

$$\Leftrightarrow \left(x + \frac{p}{2}\right)^2 - \left(\frac{p}{2}\right)^2 + q = 0$$

$$\Leftrightarrow \left(x + \frac{p}{2}\right)^2 = \left(\frac{p}{2}\right)^2 - q$$

$$\Leftrightarrow \left|x + \frac{p}{2}\right| = \sqrt{\left(\frac{p}{2}\right)^2 - q}$$

$$\Leftrightarrow \left(x_1 + \frac{p}{2}\right) = \sqrt{\left(\frac{p}{2}\right)^2 - q} \quad \text{oder} \quad -\left(x_2 + \frac{p}{2}\right) = \sqrt{\left(\frac{p}{2}\right)^2 - q}$$

$$\Leftrightarrow \underline{\underline{x_1 = -\left(\frac{p}{2}\right) + \sqrt{\left(\frac{p}{2}\right)^2 - q}}} \quad \text{oder} \quad \underline{\underline{x_2 = -\left(\frac{p}{2}\right) - \sqrt{\left(\frac{p}{2}\right)^2 - q}}}$$

$$\underline{\underline{x_{1/2} = -\left(\frac{p}{2}\right) \pm \sqrt{\left(\frac{p}{2}\right)^2 - q}}}$$

يا په لنډه بڼه ليکو:

$\sqrt{\left(\frac{p}{2}\right)^2 - q}$ دلته د ريښې لاندې ـ ځانګړې معنا لري.

دا ديسکريمينانت D بلل کيږي

له دې سره کېدی شي د حل فرمول په لنډ ډول وليکل شي

$$x_1 = -\left(\frac{p}{2}\right) + \sqrt{D} \qquad \text{يا} \qquad x_2 = -\left(\frac{p}{2}\right) - \sqrt{D}$$

(c) ketabton.com: The Digital Library

که وي	$D > 0 \Rightarrow L = \{x_1 ; x_2\}$	دوه حلتوکي(عناصر؟)
که وي	$D = 0 \Rightarrow L = \{x\}$	يو حالتوکی(ډبل حل)
که وي	$D < 0 \Rightarrow L = \{\ \}$	حلتوکی نه شته

د مربع مساوات د حل سره دي لومړی ديسکريمينانتي وټاکل –يا معلومه شي، چې د حلونو ګڼون يا تعداد لاس ته راوړو.

کله کله له دي سره شمېرکار کميږي.

بيلګه:

$$x^2 + 6x + 10 = 0 \Rightarrow p = 6 \quad q = 10$$

$$D = \left(\frac{p}{2}\right)^2 - q = 3^2 - 10 = 9 - 10 = -1 \Rightarrow$$

له دي لاس ته راځي چې حل نه شته

بيلګه:

په لاندي کي also د ,,يعني,, او يا ,,نو,, په معنا دی

(c) ketabton.com: The Digital Library

$$3x^2 - 5x + 2 = 0 \quad | : 3$$

$$\Leftrightarrow \quad x^2 - \frac{5}{3}x + \frac{2}{3} = 0 \qquad \Rightarrow p = -\frac{5}{3};\ q = \frac{2}{3} \Rightarrow D = \left(\frac{p}{2}\right)^2 - q$$

$$\text{also } D = \left(-\frac{5}{6}\right)^2 - \frac{2}{3} = \frac{25}{36} - \frac{2 \cdot 12}{3 \cdot 12} = \frac{25}{36} - \frac{24}{36} = \frac{1}{36} \Rightarrow \sqrt{D} = \sqrt{\frac{1}{36}} = \frac{1}{6}$$

$$x_{1/2} = -\frac{p}{2} \pm \sqrt{D} = \frac{5}{6} \pm \frac{1}{6} \quad \left| \begin{array}{l} \Rightarrow x_1 = \frac{5}{6} + \frac{1}{6} = \frac{6}{6} = 1 \\ \Rightarrow x_2 = \frac{5}{6} - \frac{1}{6} = \frac{4}{6} = \frac{2}{3} \end{array} \right.$$

د مربع توابعو صفرځايونه

د دې لپاره چې د يوه مربع تابع صفرځايونه پيدا کړو، تل بايد يو مربع مساوات حل کړو.

که دا دوه حلتوکي لري، نو مبع تابع د ګراف دx – محور په دوه ټکو کې غوڅوي..

که يو حلتوکی لري، نو دا ګراف د x محور په يوه ټکي کې لمسوي(د خپل ککرټکي سره).

که حل ونه لري، نو ګراف د x محور پورته لور ته يا کښته لور ته ځغلي او غوڅټکی نه لري.

د حل کنترول

لکه په هر مساوات کې کېدی شي حل داسې کنترول شي، چې د حلتوکي په سرچينيز مساوات کې ځاپه ځای شي، يعنې کنترول وکړي.

په مربع مساواتو کې دا ساده دی، د ويتا د ريښې جملې سره.

د ويتا**Vieta** جمله :

(c) ketabton.com: The Digital Library

که مربعیز مساوات $x^2 + px + q = 0$ دوه حلونه ولري، نو باور لري:

$$-x_1 - x_2 = p \quad \text{او} \quad x_1 \cdot x_2 = q$$

دد مربع مساوات په نورمال بڼه کې په ساده ډول ایښوونې سره سړی دا ثبوتولی شي.

x1 او x2 سره جمعه کړئ

$$x_1 + x_2 = -\frac{p}{2} + \sqrt{D} + \left(-\frac{p}{2} - \sqrt{D}\right)$$
$$\Leftrightarrow x_1 + x_2 = -\frac{p}{2} + \sqrt{D} - \frac{p}{2} - \sqrt{D}$$
$$\Leftrightarrow x_1 + x_2 = -\frac{p}{2} - \frac{p}{2} = -p$$
$$\Leftrightarrow \underline{\underline{p = -x_1 - x_2}}$$

X1او x2 سره ضرب کړئ

$$x_1 \cdot x_2 = \left(-\frac{p}{2} + \sqrt{D}\right) \cdot \left(-\frac{p}{2} - \sqrt{D}\right)$$
$$\Leftrightarrow x_1 \cdot x_2 = \left(-\frac{p}{2}\right)^2 + \underbrace{\frac{p}{2} \cdot \sqrt{D} - \frac{p}{2} \cdot \sqrt{D}}_{0} - D$$
$$\Leftrightarrow x_1 \cdot x_2 = \left(-\frac{p}{2}\right)^2 - \left[\left(\frac{p}{2}\right)^2 - q\right]$$
$$\Leftrightarrow x_1 \cdot x_2 = \left(-\frac{p}{2}\right)^2 - \left(\frac{p}{2}\right)^2 + q$$
$$\Leftrightarrow \underline{\underline{x_1 \cdot x_2 = q}}$$

بیلګه:

غوښتنه یا ثبوت:

(c) ketabton.com: The Digital Library

مربع مساوات $x^2+x-6=0$ او $x_1 = 2 \quad x_2 = -3$ حلونه لري.

$p = 1$ او $q = -6$

ازماښت

$$-x_1 - x_2 = -2 - (-3) = 1 = p$$
$$x_1 \cdot x_2 = 2 \cdot (-3) = -6 = q$$

برعکس یا په څټ د ویتا د جملې سره کیدی شي چې مربع مساوات جوړ کړو، کوم چې ټاکلي حلونه لري.

بیلګه:

یو څلوریز یا مربع مساوات څنګه باید وبریښي، چې د هغه حلډېرۍ $L = \{-2;1\}$ وي؟

$$p = -x_1 - x_2 = -(-2) - 1 = 1$$
$$q = x_1 \cdot x_2 = (-2) \cdot 1 = -2$$

له دې لاس ته راځي، چې $x^2+x-2=0$ اړونده مربع مساوات دی.

پام:

دا فقط یو مربع مساوات دی د دې حلډېرۍ سره.

د دې ټول ډېرځله هم همدا حل لري.

بیلګه: یو مربع مساوات دې څنګه وي، که د هغه حلډېرئ(حلسټ) $L = \{-2; 1\}$ وي؟

$$p = -x_1 - x_2 = -(-2) - 1 = 1$$
$$q = x_1 \cdot x_2 = (-2) \cdot 1 = -2$$

(c) ketabton.com: The Digital Library

$$\Rightarrow x^2 + x - 2 = 0$$

(له دې لاس ته راځي) د دې اړونده مربع مساوات دی.

یادونه:دا فقط یو مربع مساوات دی، د دې حل سره.

د دې ټول زیاتځله یا هم همدا حلډېرئ لري.

کړښیز ضریبونه(ځلووني) یا فاکتورونه:

ید بل امکان هم شته، چې مربع مساوات جوړکړای شو.

بېلګه:

$L = \{x_1 \mid x_2\}$ دې د یو مربع مساوات حل وي،

$\underbrace{(x - x_1)}_{\text{Faktor 1}} \cdot \underbrace{(x - x_2)}_{\text{Faktor 2}} = 0$ نو باور لري. (ضرب)

دا د یوه مربع مساوات کړښیزه بڼه ده.

یو شرب ټیک هلته صفر دی، چې لږ تر لږه یږ له دې دوه ضریبونو څخه صفر وي.

ضریب ۱ صفر دی: لاس ته راځي ضریب ۲ صف دی: لاس ته راځي	$\Rightarrow (x - x_1) = 0 \Leftrightarrow x = x_1$ $\Rightarrow (x - x_2) = 0 \Leftrightarrow x = x_2$

بیلګه: x1=3 یا x2=-2 دې د یوه مربع مساوات حلونه وی.

کړښیزه بڼه بدلون: (x-3)(x+2)=0

(c) ketabton.com: The Digital Library

مربع : $x^2 - x - 6 = 0$

کرښیز ضریبونه:

یو بل امکان هم شته،چې مربعمساوات جوړ کړو.

بیلګه:

L={x1;x2} دې د یوه مربع مساوات حلډېرئ وي.

نو باور لري: $\underbrace{(x - x_1)}_{\text{Faktor 1}} \cdot \underbrace{(x - x_2)}_{\text{Faktor 2}} = 0$ (faktor:ضریب)

دا د یوه مربع مساوات کرښیزه بڼه ده.

یو ضرب ټیک هله صفر دی، که لږ تر لږه یو له دواړو ضریبونو صفر وي.

ضریب ۱ صفر دی:

$$\Rightarrow (x - x_1) = 0 \Leftrightarrow x = x_1$$

ضریب ۲ صفر دی:

$$\Rightarrow (x - x_2) = 0 \Leftrightarrow x = x_2$$

بیلګه: x1=3 یا x2=-2 دې د یوه مربع مساوات حلونه وي.

کرښیزه بڼه: (x-3)(x+2)=0

مربع مساوات: $x^2-x-6=0$

(c) ketabton.com: The Digital Library

$$p = -1 \quad q = -6 \Rightarrow D = (-0,5)^2 + 6 = 6,25$$
$$x_1 = 0,5 + \sqrt{6,25} = 3 \quad \text{oder} \quad x_2 = 0,5 - \sqrt{6,25} = -2$$

تولګه:

لومړۍ بڼه: $ax^2 + c = 0$

بڼه بدلون و $x^2 = ?$ ته او د ریښه نیونې له لارې حل

دویم بڼه یا ډول: $ax^2 + bx = 0$

د اووښتونې یا ماحولي x له نوکانو اپستلو له لارې حل.

$x(ax + b) = 0$ او د صفر ضرب جمله و کاروی.

دریمه بڼه: $ax^2 + bx + c = 0$

مساوات په نورمال بڼه راوړی

$x^2+px+q = 0$ او د P-q -فرمول سره حل کړی.

$$x_{1/2} = -\frac{p}{2} \pm \sqrt{D} \quad \text{د} \quad D = \sqrt{\left(\frac{p}{2}\right)^2 - q} \quad \text{سره}$$

د $D > 0$ لپاره دوه حلونه شتون لري. $L = \{x_1 ; x_2\}$

د $D = 0$ لپاره ډبل حل شتون لري $x_1 = x_2 \Rightarrow L = \{x_{1/2}\}$

د $D < 0$ لپاره حل شتون نه لري. $L = \{\ \} = \varnothing$

(c) ketabton.com: The Digital Library

د ویښتا د ریښې جمله(موخه د مربع مساواتو د حلونو جمله هم کېدی شي):

که مربع مساوات $ax^2 + bx = 0$ دوه حلوه ولري، نو باور لري:

$x_1 \cdot x_2 = q$ او $-x_1 - x_2 = p$

د یوه مربع مساوات کربنیزه بڼه:

$L = \{x_1 \mid x_2\}$ دې د یوه مربع مساوات حل وي.

$\underbrace{(x - x_1)}_{\text{Faktor 1}} \cdot \underbrace{(x - x_2)}_{\text{Faktor 2}} = 0$

نو باور لري: (ضرب)

یا $a(x - x_1)(x - x_1) = 0 \Leftrightarrow L = \{x_1 \mid x_2\}$

پوښتنې:

لاندې مربع مساوات حل کړی.
د دې لپاره اړونده هغه بڼه تلنلار و کاروی او د ځای په ځای کولو له لارې یې و ازمایی.

1. $4x^2 = 1$
2. $x^2 + 4x = 0$
3. $2x^2 - 16x + 14 = 0$
4. $(x + 2)^2 = 16$
5. $4x^2 - 16 = 0$
6. $x^2 - 8x + 7 = 0$
7. $x^2 + \pi x = 0$
8. $2(x + 3)^2 - 18 = 0$
9. $-x^2 + x = -\frac{1}{2}$
10. $3x^2 + 12x + 3 = 0$
11. $-x^2 + 8x - 8 = 0$
12. $4(x - 4)^2 = 32$

(c) ketabton.com: The Digital Library

13. $\frac{1}{12}x^2 - x = 0$ 14. $\frac{1}{4}x^2 + 2x - \frac{2}{5} = 0$

15. $\frac{3}{16}x^2 - \frac{3}{4}x = 0$ 16. $-\frac{3}{4}x^2 + 3x + 9 = 0$

17. $\frac{3}{2}x^2 - x - 4 = 0$ 18. $\frac{3}{4}x^2 - \frac{1}{3}x = 0$

19. $2x^2 - \frac{10}{3}x - \frac{4}{3} = 0$ 20. $\frac{2}{3}x^2 + 4x = 0$

بیلګه۱:

په لاندې کې Probe ازماینت.

$$8x^2 = 2 \mid :8 \Leftrightarrow x^2 = \frac{1}{4} \mid \sqrt{\ } \Leftrightarrow |x| = \frac{1}{2} \Leftrightarrow x_{1/2} = \pm\frac{1}{2}$$

$$\text{Probe}: \quad x_1 = \frac{1}{2} \Rightarrow \quad 8\cdot\left(\frac{1}{2}\right)^2 = 8\cdot\frac{1}{4} = 2 \quad x_2 = -\frac{1}{2} \Rightarrow \quad 8\cdot\left(-\frac{1}{2}\right)^2 = 8\cdot\frac{1}{4} = 2$$

بیلګه ۲ :

$$2x^2 + 8x = 0 \Leftrightarrow x(2x+8) = 0 \Leftrightarrow x_1 = 0 \text{ (}$$

